
د واورې لمن
د لنډو کیسو ټولګه
وږمه سبا عامر

د واورې لمن

د لنډو کيسو ټولګه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

وږمه سبا عامر

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	::	د واورې لمن
لیکواله	::	ورمه سبا عامر
خپرندوی	::	دانش خپرندویه ټولنه
د چاپ وار	::	لومړی
چاپ نېټه	::	۱۳۸۳ل/۲۰۰۴م
کمپوزر	::	ذبیح الله شفق
شمېر	::	۱۰۰ ټوکه

چاپ او کمپیوټر ځی

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

قصه خوانی بازار، پېښور

Tel/Fax:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com

PROPERTY OF
ACKU
12135

ډالۍ

خپلې خوږې او درنې مور ته چې نه يې ما خوږ ژوند وليد او نه تريخ مرګ تول عمر له يو بل نه جلا او مسافر پاتې شو.

د سبا وړمې

دا وړمې د هغه چا د خيال، فکر او قلم وړمې دي، چې ليکوالـه يې پخپله وړمه ده، خو يوازې وړمه نه، بلکې ملګرتيا يې له سبا سره ده، د وړمې د قلم او ذهن دا سبانۍ وړمې په لومړي ځل د پښتو ادب د داستاني څانګې له مونګرو (شګوفو) پر پښتنو دماغونو لګي، دې داستاني وړمو ددغو وړمو ليکواله (وړمه سبا) د لنډو کيسو د ښځمنو ليکوالو په هغه کاروان کې ودروله، چې د لرې پښتونخوا زيتون بانو، عايشه ملك، مبارك سلطان شميم، تاج درانۍ، سلمى شاهين، صابره سلطانه او... او د برې پښتونخوا کبرى مظهري، بلقيس مکيز، پروين فيض زاده ملال، کريمه رسولي، صفيه صديقي، نجيبه وجدي وردګ، عارفه عمر لور او په لسګونو نورو پښتنو خوېندو يې پل اخيستى او د پښتو لنډو کيسو د لوړتيا او پرمختيا د موخې او منزل پر لور ګامونه اخلي.

د وړمې خور دا لنډې کيسې ــ چې له بده مرغه مياشتې مياشتې يې زما د بوختيا او ناوزګارتيا په ښکېلتون او توقيف کې د ارزونې په تمه وګاللې ــ د افغاني ټولنې د وروستيو دوه نيمو لسيزو د وروستۍ لسيزې د پېر د ټولنيزو

ناخوالو او دردونو یو بورنوري او دردوونکی انځور دی، چې عمر یې ددې د لیکوالې له عمر سره سم دی او انځور یې د یوې حساسې ښځینې روښاندې په توګه د قلم په انځورۍ (کمره) کې خوندي کړي دي.

ماته ورمې خور دا کیسې په دې نیامت د یوه لیکوال دوست په لاس سپارلې وې، چې زه یوه یوه ښه په غور ولولم، د سمونې، کمونې او زیاتونې په ژمنه یو څه پرې وکارم، خو له بده مرغه چې ما په دې څو میاشتو کې هم له یوې نیمې کیسې پرته نه په دوستانه ژمنه او نه په نقادانه تعهد دا سپارښت ومانه، اوس چې زه دا یو څو کرښې پردې کیسو توروم، نو ګران لوستوال او ګرانه خور دې ترې د سپارښتنې او غوښتنې د منلو تمه نه کوي، بلکې دواړه اړخه دې دا کرښې زما د ګرمتیا د وړاندې شوې انځور یو څرک وبولي.

د کیسو د منځپانګې او هنري ښکلا په اړه همدومره ویلای شم، چې ښاغلي لوستوال له آغلې ورمې سبا سره ددې داستاني تولګې د لومړیوالي په پار ډېرې ګوتې ماتې نه کړي، نو زما باور دی، چې زما په څېر به دوی هم ترې په ګانده کې ـ د پرله پسې کړاو په اړ (شرط)ـ د یوې بریالۍ کیسه لیکونکې تمه ولري.

زه په پای کې خپلې درنې لیکوالې ته په دې اغزن یون کې د ناستوماني ارادې او پاخه هوډ په غوښتنه ددغه هنري سفر د پیل مبارکي وایم.

په ګوتو او قلم یې برکت شه

محمد آصف صمیم

د ورمې د کيسو ټولګه

هسې خو د ژوند له هر اړخه کيسه او افسانه سر راپورته کوي، ځکه چې ژوند له کيسو نه ډك وي او هر دم او قدم يې کيسه کيسه وي، نو په انساني توغه کې ښځه د کيسو ګوډۍ وي همداس سبب دی چې کيسه د ښځې له خولې مزه کوي.

تاسې به ليدلي وي، چې ماشومان تل له خپلو زړو نياګانو څخه راتاو وي او کيسې ترې غواړي. هغې د نر لور به هم په دې شرط چې ښه ښه به راته کوئ، او ويده کېږئ به نه پيل وکړ، چې:

و نه و يو باچا و، ناست په دوکانچه و، کميس يې د الوچه و او د داسې نورو مرصعو کلمو په کتارولو پسې به يې يا د سيف الملوك او بدرۍ جمالې کيسه راواخيسته او يا به يې د بهرام ګور او د يو ترابان نکلونه.

خو اوس په کیسو کې هغه خوند او مزه نه ده پاتې. اوس په کیسو پابندي لګېدلې او حدود ورته ټاکل شوي دي، چې که کله دې له دغو حدودو تېری او تجاوز وکړ، نو بیا به د کیسې له ټیکه دارانو سره په غم واوړې. داسې خلک به درپورې ونښلي لکه ژوره، بیا هم ژوره خو د انصاف دار تر هغې هم څو نیزې اوښتې.

په هر حال، خبره بې کچه کړه شوه، خبره د ورمې د کیسو وه او هغه هم د سبا د ورمې چې د رنګارنګ ګلونو په عطرونو تاوه راتاوه د شامي قووې کونجونو ته ورننوزي او په تخنولو تخنولو یې له خوبه راپاڅوي او د سبا د خور و ورو معطرو ورمو زېری ورکوي. خو دا ورمه دومره کوچنۍ نه ده، چې په سپېرمو ورننوزي او د دماغ په سیلولونو کې ځای پیدا کړي. خو دا ورمه دې خدای ژوندۍ لري، چې د کوزې پښتونخوا د ښځینه کیسه لیکوونکیو څخه وروسته نه ده پاتې شوې او د اوږو پوزه یې راته ایښې ده.

ورمه سبا یا د سبا ورمه زه له ډېره وخته پېژنم او هغه وخت چې ما د هېواد په ورځپاڼه کې پاڼې تورولې، دې هم پرته له دې چې چا ډانګ پسې رااخیستی وي څه لیکل او د خپرولو لپاره یې راوړل دا ښځې ډېرې لویې بلاګانې دي، چې په دومره تنګو شرایطو کې بیا هم کېني او څه لیکي، څه لیکل څه چې غزلې لیکي او ډېرې خوندورې غزلې او ځینې خو بیا د ورمې په شان کیسو لیکلو ته لستوڼي راپورته کړي او کیسې لیکي. زه ورته افرین ځکه وایم، چې له ښځینه مصروفیتونو سره سره اوړدې او لنډې کیسې لیکي. لکه دغه ورمه سبا درواخله. ددې د کیسو ژبه ډېره خوږه ځکه ده، چې

د موسکا ملیحه پرده یې تل په شونډو خپره وي او کلام ته یې کیف او رنګ وربخښي.

ما ددې یو څو کیسې او ګزارشاتي کیسې چې مخې ته راغلي دي، بې لوستو نه دي پرېښي، ځکه چې یو راباندې ګرانه ده او بل دا چې ددې زیات امکانات پې موجود دي، چې ډېره ښه کیسه لیکونکې ترې جوړه شي او بریت تاوونکیو کیسه پردازانو ته ماتې ورکړي او دغه کاذب شهرت، چې د دوی د کاذبه غرور زېږنده ده، ترې واخلي.

زه په ورمه کې دا مېړانه وینم او د خپلې همدغې هیلې په ملګرتیا ورته د ډېرې ښې کیسه لیکونکې توفیق غوارم.

بس همدومره

قتیل خوږیاڼی

پښتونخوا ــ پېښور

د افغان د خاورې لور

ورمه سبا

د پښتو په افسانه کې

افسانه د ژوند هاغه حقیقت دی، چې په لیدو یې لیدونکی دا گمان کوي:

هو! دا رښتیا دي
داسې کېږي
داسې شوي دي.

د یوې ښې افسانې شکل او صورت دا دی، چې هغه په کتو کتو قاري ځان سره بوځي او په یو کلایمکس یې داسې حېران ودروي لکه یو لاروی، چې د بندې کوڅې په آخره کې ودرېږي او یو سوړ اسویلی وکړي.

زه چې ددغه رنگ او انداز افسانې ته گورم، نو د ورمه سبا د افسانو په آخري نکته زه دغه شان حېران ودرېدلی یم او مخې ته مې لوی افغانستان د سانحې حرف په شان باتصویره افسانه جوړه شوې ده. هغه افغانستان چې په خپله قیصه کې قیصه لري، یوه داسې قیصه چې حرف به حرف رښتینې ده او

راوي يې پخپله هغه افسانه نګاره ده، چې دا قيصې يې ليکلي دي.
د حقيقي افسانه نګارۍ او کردار نګارۍ په حواله دلته ماته د سعادت حسن منټو د قبر هاغه کتبه رايادة شوه، چې هغه په خپل ژوندوني ليکلې وه، منټو وليکل:
"اج منو متی تلے منٹو سوچ رها هے که خدا بڑا افسانه نګار هے يا مين".
د منټو دغه دعوه د افغانستان د نازولې افسانه نګارې ورمه سبا لپاره زه کوم، چې خداى پاك د خپلې وينا کومه افسانه او کوم کردارونه تخليق کړي دي، په هغې کې ورمه سبا د خپلې افغاني ټولنې داسې افسانې او کردارونه تخليق کړي دي، چې زه به د هغې دپاره د منټو د دعوې په شان دا ليکم:
"هو!
زه د خپل وطن هاغه افسانه نګاره يم، چې خپل شهيد وـن مې په اوښکو پاك نه کړو او په ژړا مې ژوندی نه کړو، ما د کابل د واورې لمن کې د پښتو د لفظونو يو داسې عيسی (عليه السلام) پرېښود، چې د لوی افغانستان د بارودو په لوګو کې يې پلار ورك دی.
ای د دنيا د امن دعوه ګيرو!
ورشئ زما پښتون عيسی له ورك شوی پلار وګورئ، چې زه د واورې لمن نه يخې کنګل ستـ ګې وغړوم او د خپل بنجاري بچي نه پپه واخلم."
ما چې د ورمه سبا د کتاب د واورې لمن افسانه وکتله، چې ددې کتاب نوم هم دی نو زه يې بيخي هغه کابل ته

ورسولم په کوم کابل کې چې د اسلامي جهادي رهبرانو د پټکو او قباګانو د سیوري لاندې پېغلې ناهید د هوس د نوکارو نه ځان ښکته سرك ته راوغورزاوه او په خپلو وازو سترګو کې يې دا يو سوال ونيولو:

"ای د پرښتو استاذانو!

ستاسو په جهاد کې د حوا د لور عظمت او حرمت دا دی؟؟"

د ورمه سبا کومي افسانې، چې ما کتلي دي په هغې کې د افسانې د فن د لفظونو د نزاکت او د کردارونو شناخت قوي دی او مرکزي نکته يې د افغانستان د شهيدې ناهيد علامت دی. زه چې ددې افسانو مرکزي خيال، کردارونو او پلاټونو ته فکر کوم، نو د افغانستان د پېنځه ويشت کلنو بدبختيو واقعات پکې په افسانوي انداز ښکاره شي او ماته په دې خطه کې د هند د براعظمګي د وېش سره د انساني تشدد او د مذهبونو په نوم پامال شوی انسانيت راياد شي، چې اردو ژبو افسانه نګارانو د دوه قومي نظريې چې دروغژنه اصطلاح ده په بنياد نه~ د دوو مذهبونو د کرکو او نفرتونو په بنياد د افسانې کردارونه راپيدا کړي وو، هغه مزاحمتي ادب نن هم په دې خطه کې د آزادۍ په نوم د انسانيت تذليل ښايي.

په دغه حواله د براعظمګي د وېش په نتيجه کې مزاحمتي ادب په دويمه مرحله کې افغانستان يو داسې عنوان دی، چې کردارونه يې تراخه واقعات ښايي. چونکه ورمه سبا پخپله ددغه وينې وينې خاورې لور هم ده او د لور په صفت ليکواله هم ده، نو هغې خپل وطن او خپل کردارونه د افسانو په ژبه راجوړ کړي دي. زما په خيال دا د هغې باکماله صلاحيت او د

ليکوالی جرات دی، چې د افغانستان د لور په صفت يې د لهجې نازك احساسات هم چېړلي دي او د وطن په شورشونو کې چې د حوا د لور عظمت ته کوم تاوان رسېدلی دی، هغه خبره يې هم په افسانه کې کړې ده.

زه د ورمه سبا د افسانو په ليدو دا دعوه کولی شم، چې د افغانستان لور د تېر هغه هومره قوت او جرات لري، څومره يې چې د افغانستان زامن لري او دا دعوه هم لرم، چې ددې اوږدې سانحې په دوران کې چې څومره سانحې ادب د ساندو او وېرونو ادب مخې ته راغلی دی، په هغې کې د افسانو په شمېر کې به د ورمه سبا افسانې هم د پښتو ددې لنډۍ په مثال ګورو، چې:

که د زلمو نه پوره نه شوه

ګرانه وطنه جينکۍ به دې ګټينه

نورالبشر نويد

۱۹ اپريل ۲۰۰۴. پېښور

انځورونه

ایمل، چې د شپې تر ناوخته پورې د څراغ رڼا ته ناست و او ډېر سپین کاغذونه یې په رنګونو لړلي وو، له ډېر سوچ او محنت څخه وروسته په دې بریالی شو، ترڅو یو ښکلې شنه ونه رسم کړي او د ونې له پاسه د چوغکو ځاله او بیا په ځاله کې څو دانې هګۍ.

یو وار یې سوچ وکړ، چې د هګیو د پاسه دې یو چوغکه هم وباسي، خو دا سوچ اودې رنګ ورته خوند ورنه کړ، ځان سره یې تصمیم ونیوه، چې نه چوغکه به ښکلې رانشي او دا تصویر یې چې څومره په خواری کښلی دی، دا به ورته خراب شي.

ښوونکي د وروستي ځل لپاره اخطار ورکړی و. دا د ایمل دریم کال و، چې په دې ټولګي کې پاتې و. ښوونکي ورته ویلي وو که دا ځل پاتې شوې، نور به ښوونځي ته نه راځې. سږ کال ایمل ته ټولګي خونه ورکاوه، هغه په ټولګي کې یوه ټولګي واله، چې ډېره خوږه او پسته ژبه یې درلوده پلوشه موندلې وه. ایمل به تل اوس د هغې سره لوبې کولې. هغې به د مشق په وخت کې کله کله د مشق د رنګو بوتل او همدارنګه د رسم په ساعت کې به یې ورته خپلې رنګې هم ورکولې.

اوس نو ایمل ته غیرت دربدلی و، چې هرومرو به ښکلی تصویر اوباسي او سبا ته به یې خپل ښوونکي ته ښکاره کوي او بیا به دا تصویر په توره تخته باندې هم وباسي چې خپلو ټولګیوالو ته پاتې رانشي. ایمل څو واري د کاغذ پرمخ تصویر ته وکتل، شنه ونه د ونې له پاسه د چوغکې ځاله او بیا په ځاله کې څو دانې هګۍ. خپلې رنګې او قلمونه یې د ښوونځي په بیک کې ځای پرځای کړل، ښکلی تصویر یې دبالښت ترڅنګ کېښود او په خپل خوب ځای کې اوږد وغزېد. په سوچ کې لاړ، چې سبا ته به کله چې ښوونځي ته لاړ شي، نو تصویر به لومړی پلوشې ته ښکاره کړي او همدارنګه قسیم او میرویس ته به خپل استعداد وښايي او هغوی ته به ښه زور ورکړي.

په همدې خوشالۍ سره د خوب دنیا ته لاړ او ویده شو.

سهار يې مور په څو غړونو له خوبه پاڅاوه ترڅو سباناری وکړي او ښوونځي ته لاړ شي. کله چې له خوبه پاڅېده په داسې حال کې چې سترګې يې په لاسونو موښلې ناڅاپه يې خپل کښلی تصوير ور په ياد شو او د بالښت خوا ته يې وکتل. ګوري چې رسم باندې د اوبو ګېلاس چپه شوی او دده رسم شوې شنه ونه د چوغکو ځاله او په ځاله کې څو دانې هګۍ ورانې شوي دي. په دې وخت کې په ژړا شو، مور يې چې هر څومره ډاډګيرنه ورکوله، خو ايمل همداسې ژړل. نن يې زړه نه غوښت چې ښوونځي ته لاړ شي، خو مور او پلار يې مجبور کړ ترڅو لاړ شي. په خپه زړه ښوونځي ته لاړ د ښوونکي غوسه ناکه څېره يې تر سترګو کېده او بيا به په دې سوچ کې شو، چې څرنګه بيا به په يوه پښه د ټولګي مخې ته د تورې تختې ترڅنګ ولاړ وي او قسيم او ميروس به ورباندې خاندي. سترګې يې بيا له اوښکو راډکې شوې، بيا يې سوچ وکړ چې ښوونځي ته لاړنشم بيا .هې وويل که لاړ نشم نو چېرته به لاړ شم د ښوونځي نه غېرحاضري هم ورته ښه خبره ښکاره نشوه.

په ډېر سوچ کې په خپلې کرسۍ ناست و، لږ څه شېبې د ښوونکي راتګ ته پاتې وې، چې پلوشه راغله د ايمل سره تر سترې مشي وروسته يې له خپلې بستې نه د يوې ګل دانۍ رسم راوويست او ايمل ته يې وربښکاره کړ. ايمل د رسم په ليدو موسکی شو، ماشومانو خپل

رسمونه یو بل ته ښودل، هر یو له ځان سره ویل چې ښکلی رسم یې کښلی دی. پلوشې له خپلې بستې نه بل کښلی رسم، چې څو چوغکې د یوې شنې ونې په ښاخ ناستې وې راوویست او دا رسم یې ایمل ته ورکړ، وې ویل دا مې ستا لپاره ویستی ښوونکې ته یې ورښکاره کړه، ما ماښام سوچ وکړ، چې ته به یې نه راوړې او بیا به ښوونکی درته غوسه کېږي، ته به ښوونځي ته بیا نه راځې او ما سره به څوك لوبې کوي، دا مې ستا لپاره رسم کړ. د پلوشې انځور دده او بو وېړې انځور ته کتنه ورته و. ځکه له ده نه چې غاړا کړې یې وې.

د مالوچو غونډارۍ

د ګـرۍ د زنـګ پـه اوریـدو سـره لـه خوبـه پاڅېدمـه، د خبرونـو وخـت و، راډیـو مـې د مېـز لـه پاسـه راواخیسـته، ترڅـو د نـړۍ او هېـواد لـه حـالاتو څخـه ځـان خبر کـړو. عـامر مـې تـرڅنګ لا هماغسـې ویـده و، زمـا پـه پاڅېـدو لـږ څـه خـوب یـې نـاکراره شـو، لـه یـوه اړخ نـه بـل اړخ تـه واوښـت. پـه خـوږه ژبـه یـې وویـل: قنـدې راډیـو ونیسـه، زه یـولس دقـیقې نور هم ویده کېږم، ما هم کمپله پرې سمه کړه.

راډيو ته مې غوږ نيولی و، په کابل کې کراره کړای وه، د خبرونو نه وروسته بله ادبي خپرونه پيل شوه. ما د کوټې د کړکۍ نه بهر وريځمنې ورځې ته کتل، آسمان ټول وريځو پوښلی و، ماته يو څه راپه زړه کېده يو ياد و، زه يې له ځان سره بوولم، خو زه نه پوهېدم او ذهن مې راسره ياري نه کوله.

هو! په همدې کش و ګير کې وم، چې نطاق د راډيو له څپو نه د "برفي" په اړوند مطلب وړاندې کړ. د مطلب په اورېدو ماشوم توب مې راپه زړه شو، څومره خوږې شپې او ورځې وې، په خپل کور او کلي کې و، د ژمي په واورينو شپو کې به مو د کور د صندلۍ په سر به د توت او چارمغزو ډك قابونه ايښي وو او تورو چايو سره به مو خوړل. کله چې به د لومړي ځل لپاره واوره ورېدلې وه، نو برفي به مو جوړه کړه. د ګاونډيانو او نژدې خپلوانو، چې کورونه يې موږ ته رانژدې وو، کره به مو وروړه.

هغه سهار راته ښه په ياد دی لکه دا نن له خوب نه پاڅېدمه، ګورم چې ټول انګړ واورې په خپل سپين څادر پوښلی دی او د سړې يخنۍ زېری يې ځان سره راوړی دی، ما خپلې تودې موزې چې شين رنګ يې درلود او پلار مې راته راوړې وې له الماری څخه راواخيستې، په پښو مې کړې، انګړ ته ووتم په خوند، خوند سره مې په سپينو او د ورېښمو په شان په پستو پستو واورو باندې ګامونه کېښودل. بيا به مې چې ګام اوچت کړ، په واورو

کې به زما د ګامونو چاپونه پاتې شوي وو، ما به ټول انګړ د خپلو موزو په چاپونو ښکلی کړی و، د خپل ګام هرې چاپې ته به مې کتل، چې زما د موزو نه وتلې لیکې هم پکې ښکارېدې. دې چاپونو به ډېر راته خوند راکړی و. زما موزې ډېرې ښکلې وې او رنګ یې هم د شنو پاڼو په شان شین و، لږه واوره مې په لاسونو کې راواخیسته او خولې ته مې کړه، په دې کې مور راباندې غږ وکړ:

ـ مه، مه لېونۍ راځه چې ساړه دې ناروغه کېږې.

زما لاسونه یخ نیولي وو، چې کوټې ته لاړمه د بخارۍ ترڅنګ کېناستم بیا مې مور په پاکټ کې څه بند کړي وو راته یې وویل:

ـ دا واخله نسیم دوی کره لاړه شه وریې وړه پام چې ګیره دې نه کړي، ګوره ځان لاس کې ورنه کړې، که نه نو برفي په مونږ راځي.

ما هغه پاکټ واخیست د ګاونډیانو کره ورغلم، د نسیم دوی د دروازې زنګ ته مې فشار ورکړ، د نسیم مشر ورور ور راته خلاص کړ، سلام مې وکړ، بیا مې پاکټ ورکړ، چې دا مې پلار رالېږلی دی، هغه چې پاکټ په لاس کې واخیست، نو سمدستي یې زما لاس ټینګ ونیو او کور ته یې بوتلمه، ټول راباندې راټول شول، په ټوکو او ټکالو یې پیل وکړ.

زما مور په پاکټ کې د لومړۍ واورې مبارکۍ تر لیکلو وروسته ورته لیکلي وو:

يو ښه لاندي پلو، يو کيلو توت او څلورم غز، د چاى لپاره يو غورى منتو، ځلور کيلو مالتې او شل دانې کيلې، دا فرمايش و، چې مور مې په پاکټ کې ليکلي و. هغوى پاکټ پرانيست او په مزه مزه يې مبارکي او بيا وروسته د برفى د مهمانى فرمايشونه ولوستل. ښې خنداګانې يې سره وکړې، بيا د نسيم خور راولاړه شوه، په سکرو باندې يې زما مخ ښه راتور کړ او بيا يې يو اوږد لېست وليکه. زما په لاس کې يې ځوابي پاکټ راکړ، د کور په لوري يې د تګ اجازه راکړه.

ما پاکټ نيولى و، کله چې کور ته راغلم، نو خداى شته چې مور مې په خندا شوه، ماته يې راغبرګه کړه، وې ويل:

- بې غېرتې ګېره يې کړې، بلا وهلې وې منډه به دې کړې وه.

له لاس نه مې پاکټ واخيست او په خندا خندا يې د هغو راليږلى ليست ولوست. کله چې پلار مې دفتر ته روانېده، نو د سودا راوړلو لپاره يې د هغو برابر کړى لست ورکړ او د ماښام لپاره يې تيارى ونيوه. څومره ښکلى ماښام و، د ګاونډې د کور ټول غړي مونږ کره مېلمانه وو د ژمي شپه او د ژمي لومړى واوره مو ونمانځله.

نن مې هم د راډيو په څپو کې واورېده، چې د کابل په ښار کې واوره ورېدلې ده که څه هم دلته په دې ښار کې

خلکو واوره له نږدې نه ده لیدلې او ورسره بلد نه دي، یوازې د واورې ښکلا یې د تلویزیون په پرده کې لیدلې ده او کیسې یې د خلکو له خولې نه اورېدلي دي. د کیسو اورېدل دومره خوند نه لري لکه چې سړی له نږدې نه ګوري او د ژوند سره یې دا منظرې ملګرې وي.

خدای شته، چې زړه مې د داسې یو خوشالۍ او برفۍ جوړولو په لټون کې شو، له کوټې راووتم، عامر هماغسې په خواږه خوب ویده و، ما له مالچو نه د واورې غونډارې جوړ کړ او لست مې ورته ولیکه. د واورې مبارکي مې هم پرې ولیکله، د عامر سرته راغلم، هغه مې له خوب نه راپاڅاوه او پاکټ مې ورته ورکړ. هغه پاکټ پرانېسته، بیا یې حېران حېران راته وکتل، موسکۍ غونډې شو د کړکۍ په لوري یې منډه کړه، په غبرګ کې یې راټینګه کړم راته یې وویل:

ـ درواغجنې کومه ده واوره، خو نه ده اورېدلې ا ودا مالوچ ؟ په خندا مې ورغبرګه کړه:

ـ دلته خو نه ده اورېدلې په کابل کې اورېدلې ده واوره مې پیدا نه کړه، ما مالوچ درته کېښودل. هغه د برفي په دود او دستور نه پوهېده، ولې چې هغه ماشوم توب دلته په دې ځای کې تېر کړی و او له ماشومتوب نه دلته اوسېږي، د برفۍ په لېږلو رسم او دود باندې نه پوهېده، ما ورته د برفۍ دود دستور په اړوند کیسې وکړې او هغه په ډېره مینه راته غوږ نیولی و. هغه چې

واوره یوازې په فلمونو کې د سینما پر پرده او د تلویزیون د هنداري پرمخ لیدلې وه، کله کله به یې په خواږه انداز راته وویل:

ـ قندي! سړی په واوره کې لمد پړي؟؟ په هغه ورځ ماښام یې د ښار یو ښکلي هوټل ته د برفي د ناغې د مجرا کولو لپاره ځان سره بوتلم، او ښه ښه خوراکونه یې د کابل د واورې په یاد راباندې وخوړل.

جنوري ۲۰۰۴/۱۸، ګلبرګ، پېښور، صدر

کوڅه

سترګي مې چې غړولې اوکتل مې همدا کوڅه وه، ډېره اوږده کوڅه، خلك په دې کوڅه کې دې خوا او هغې خوا ته سره تلل او راتلل. زه د کوڅې په منځ کې پرته وم، ما سره دوه ځېرې ډېرې نږدې او آشنا وې او هغه راته ډېرې ګرانې وې هره ګړۍ به د هغو ليدو راته خوند راکاوه، په کوڅه کې ټول خلك روان وول.

ما غوښتل، چې همداسې مخامخ قدم واخلم لکه د نورو په شان کله چې مې ځان وخوځاوه او پښه مې پورته کړه، ولوېدمه قدم مې اخيستی نشو ولې چې ماته يې

چل نه راته بیا هغه مهرباني خبري په ډېره مینه او مهربانۍ سره زما لاس په لاس کې ونیوه او د تلو چل یې راوښووده. ما هم لکه د نورو پښان ګامونه پورته کړل او روانه شوم، قدمونه مې کېښودل. کوڅه اوږده وه، د کوڅې سر او پای نه ښکارېده، ټول خلك همداسې مخامخ روان ول. هر لاروي به له ځان سره دوه یا درې او څو تنه ملګري درلودل او په ګډه به د کوڅې د پای پر لور روان ول او خپل منزل به یې لنډاوه، خو له ما سره یوازې په پیل کې څو قدمه هغې مهرباني خبرې واخیستل بیا راځخه مخ کې شول او د خلکو په منځ کې راځخه ورك شول.

په کوڅه کې هرڅه پیدا کېدل، ګڼ شمېر دوکانونه وو، ګڼ شمېر خلکو به له دې دکانونو هرڅه اخېستل، خلك هم رقم، رقم وو، تور، سپین، ژېړ، سره خو په دې دکانونو کې ژړا، خندا، مینه، ښکلا، رنځ.... هرڅه خرڅېدل. خلکو به شپه ورځ د خپل اړتیا وړ شیان له همدې بازار نه اخېستل، د ډېرو شیانو بیه به ډېره لوړه وه، خو ځینې به بیا په وړیا ډول ترلاسه کېدل.

زه یوازې روانه وم، له ما سره کوم لاروی په لاره کې ملګری نه و، د کوڅې خلکو به په ځیر، ځیر کله کله راته کتل، ځینو لاریو به کله کله په نرمه خوږه ژبه راسره چلند کاوه او په مینه به یې خبرې راسره کولې او ځینو نورو به په کرکجنه سترګه راته کتل.

خو زما اړیکې په دې کوڅه کې له یوه دکاندار سره ډېرې ښې وې او تل به یې په وریـن تندي سودا راکوله. هغه د سپینو اوښکو ملغلرو دوکان و، سهار، غرمه او ماښام به مې له هغه څخه سودا اخیستله او په کوڅه کې به روانه وم او له نورو دکاندارانو سره مې لاتراوسه لاره نه وه پیدا کړې. تل په دې سوچ کې وم، چې دې نورو دوکانونو ته څرنګه لاره پیدا کړم او ددې نورو خوند هم وګورم، دا ارمان تل راسره و.

په دې شپو ورځو کې په کوڅه کې سخته ګډوډي راپیدا شوه، ځینو خلکو خپل غاښونه تېره کړل او په خپلو غاښونو به یې د کوڅې آرام او کرار لاروي و چیچل وېره او ډار پیدا شوی و، خو بیا هم تا به چې کتل، ځوان، سپین ږیری، ماشوم، ټول د کوڅې د پای په لوري روان وو. د کوڅې پای نه ښکاره کېده او دا هېچا ته روښانه نه وه، چې د کوڅې پای چېرې دی؟ ځینو خلکو به چې سپینې جامې اغوستې وې، په خپلو منځو کې او بیا به یې هر یوه لاري ته د کوڅې د پای کیسې کولې، چې هلته ډېرې ښکلې او زړه وړونکې منظرې دي او د عشرت او ښکلا هرڅه شته. همدارنګه د عذاب ډکې لارې او نورې کوڅې هم شته؟ خو د کوڅې پای څخه لاتراوسه څوك نه و راغلی، چې په خپله ژبه باندې څه ووایي، چې د کوڅې په پای کې څه تېرېږي، خو چا به له خپله ځانه بیان او کیسې کولې. زه به د هر دوکان مخې ته ودرېدم د کوڅې

د بازار دوکانونو ننداره به مې کوله. زما پر غاړه د اوښکینو مرغلرو دانو څخه یو اودلی امیل پروت و. د کوڅې د هر لاروي به چې راته پام شو، نو یو ډول ویره به ورسره پیدا شوه. دا چې ولې په دې زه هم نپوهېدم؟.

خو زه په لارې همداسې یوازې روانه وم، د کوڅې لږه لاره مې وهلې وه له مزله او یوازېتوب نه ستومانه شوې وم.

ناڅاپه له یوه لاروي سره مخامخ شوم، هغه راته وخندل، په مینه مینه یې راته وکتل. د هغه خندا او څېرې وار په وار راته خوند راکړ. له ځانه سره مې سوچ کاوه، هغه راته آشنا ښکارېده، په دې نه پوهېدم چې په څه له ما سره نژدې اړیکې لري، یو وار مې د هغه غاړې ته پام شو.

هو! د هغه په غاړه کې هم لکه زما د امیل په شان یو امیل پروت و، زما او د هغه ترمنځ لوی توپیر دا و، چې له هغه سره څو تنه نور لارویان هم ملګري وو، خو زه یوازې وم. هغه راته رانژدې شو او خپل ګامونه یې زما له ګامونو سره جوخت کړل. د هغه امیل مې ډېر خوښ شو، لاس مې ورواچاوه، امیل یې زما په ګوتو کې دانه دانه شو، پر ځمکې راتوی شو، هغه زما دا کار ولیده، نو خپل لاس یې رااوږد کړ، زما د غاړې امیل یې هم په خپلو ګوتو کې ټینګ کړو، ویې شکاوه. همدا چې زما امیل وشلېده، په دې وخت کې مې د یو ډول د هوسایۍ احساس وکړ، بیا یې زما لاس په لاس کې ونیوو، د یو دوکان مخې ته یې

ودرولم، هلته د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره وه، په ډېر زيار سره يې خپله لمن له مسکا ځني ډکه کړه، لږ څه يې زما په لمن کې راوشېندله، نوره يې په خپله لمن کې پرېښوه.

مخامخ مې بل ډېر ښکلی دوکان تر سترګو شو، دې دوکان له نورو دکانونو سره ډېر توپير درلود، هغه په دې چې له نورو دکانونو څخه ځوانان سپين ږيري ماشومان ټولو سودا کوله، خو له دې څخه يوازې ځوانانو ډېره سودا اخيستله. دوکان ته مې سر وردننه کړ، ډېر ښکلي ښکلي ګلان او د ګلانو امپلونه پکې ځوړند وو. يو سور ښکلی ګلاب يې ماته د خپل زړه په شان راته ښکاره شو. ډېر مې خوښ شو او د خپل زړګي هره يوه غوښتنه مې ددې ګلاب په هر پاڼه کې ليدله. هغه مې راواخيست او هغه ته مې ورکړ. هغه د ګلاب له اخيستلو څخه ډډه وکړه، زه ډېره خفه شوم ګلاب مې له ګوتو پر ځمکه ولوېده. هغه چې ګلاب ته وکتل نو له ځمکې نه يې راپورته کړ او په خپل ګرېوان کې يې وټومبه. ما چې د هغه په ګرېوان کې ټومبل شوي ګلاب ته کتل، نو د کوڅې تر شا پاټې ځای راپه زړه شو، چې څه موده مخکې يو لاروي ماته همداسې د ګلابو غوټۍ راکړې وه، هغه غوټۍ مې په لمن کې پاڼې پاڼې شوه او سره سره ټکي يې زما په لمن راښکاره شول. هر څه مې کوښښ کاوه، چې دا ټکي پاك شي، خو نه پاکېده بيا مې په څو لپو اوښکو باندې دا ټکي له خپلې لمن څخه پاك کړل.

هغه لاروي خپل غاښونه تېره کړل او پر ما يې غاښونه ولګول او د يوه لېوني په شان يې ډېره وخورولم، خو دا ګلاب ددې لاروي په غاړه او ګرېوان کې ډېر ښايسته ښکارېده، چې موږ دواړو د اوښکو له ملغلرو څخه ورته اوبه ورکولې. له سيلو بادونو څخه مو ژغورو، څو ګامه وروسته د ګلاب و څنګ ته يوه بله غوټۍ راشنه شوه، هغه غوټۍ له ګلاب څخه جلا شوه او بيا هغه جلا شوې غوټۍ يې زما په اوربل کې وتومبله.

دا غوټۍ زما په وربل کې دومره ښه ښکارېده، چې د کوڅې خلکو به موږ ته موږ به د کوڅې خلکو ته کتل. هغه له خپلو ملګرو لارويو څخه پټ پټ له ما سره په کوڅه کې روان و. په هر ګام کې به يې لمن لمن موسکا زما په ګامونو کې شيندله، خو ځينې وخت به يې د خپلو لارويو ملګرو له ډاره خپله فاصله راځخه لرې کړه. زه اوس يوازې نه وم له ما سره ښه ملګرى و، په کوڅه کې راسره روان و، ددې څنګ به هېڅکله يوازې نه پرېښودلم، تل به يې قدم په قدم راسره خپل پلونه اخيستل. هغه قلم و خوږې او ترخې کيسې به يې راته کولې. په کوڅه کې ټول خلك روان وو، د کوڅې سر او پاى معلوم نه و او نه څوك ترې خبر و، چې د کوڅې په پاى کې څه دي؟ چا به د کوڅې د پاى د منظرو نقلونه کول او چا به د وحشت.

هغه له ما سره په اوږده مزل کې ملګرتيا کوله، د هغه غوټۍ زما په وربل کې تومبل شوې وه، غوټۍ به ورځ په

ورځ لمن لمن موسکا زما په لمن کې راشیندله، ما د هغه په سترګو کې د غوټۍ سرخي لیدله.

کوځه اوږده وه، ځینې به ژر ژر په لارې تلل او ځینو به ورو ورو قدمونه اخیستل، څوك به زما غوندې یوازې او له چا سره به خو تنه ملګري و. هر چا به د کوځې د پای کیسې کولې، خو د کوځې له پای ځینې لاتراوسه څوك نه و راغلي، چې په خپله ژبه یې بیان وکړي، چې د کوځې په پای کې څه دي او څه تېرېږي؟؟؟؟

د سرطان ۱۳۷۷/۲۲
کابل، مکرویان

د واورې لمن

سوړ باد لګېده او له ځانه سره يې د واورې سپينې پرخې د هر لاروي په مخ وارولې. د آسمان په لوري به دې کتلی نشو، واوره ډېره درنده او په زوره ورېده، هوا ډېره سړه وه، خو د چا دې سړې هوا او يخنۍ ته هېڅ پام نه و.

د توپونو او توغنديو آوازونه د ښار له هر لوري نه اورېدل کېدل، په سړك د خلكو ګڼه ګونه وه، ځوانان، سپين ږيري، ماشومان، ښځې، نارينه هر يوه منډې وهلې. د اور په شان سرې مرمۍ ورېدلې او توغندي مو د سر له پاسه دې خوا ته آخوا ته تېرېده راتېرېده. په سړك شور ماشور و يو تر بله سره ورك وو.

ښځو، ماشومانو ټولو ژړل، هر لاروي به په لاس کې يو څه له ځان سره نيولي وو، د چا په لاس کې به د ډوډيو غوټه د چا په لاس کې څراغ او چا به په يوې کراچۍ کې د کور لږ څه ضروري سامان اچولی و او کشاوه به يې. د يوې کراچۍ ترڅنګ يو ځوان سړي يوه سپين سرې بوډۍ له لاسه ټينګه نيولې وه، سره روان وو. زړې ښځې هر يوه لاروي ته حېران، حېران کتل او له ځان سره يې توبې ويستې. په هر قدم کې به يوه يوه ګولۍ رالګېده، دا نو نصيب او قسمت و، چې څوك به څه وخت د ګولۍ ښکار کېږي او د مرګ لومي ته ورځي.

وېره، وحشت و، زوی له موره، ورور له وروره، يو تر بله سره ورك وو. د هر چا ځان ته پکر و، ما غمۍ په خپل ټيکري کې نغښتی و او په غېږ کې مې ټينګ نيولی و، له ډېرې وېرې نه چې له کوره راوتم، بوټان مې رانه ورك شوي وو او همداسې لوڅې پښې روانه وم، ګلالۍ او پلار يې له ما نه څو شېبې مخ کې، چې ډزې پيلشوې، له کوره ووتل ماته يې ډېر وويل:

ـ وه ښځې! راځه چې ووځو، توغندي راځي، بلا دې په کور پسې شي، مره به شي په ما او تا پسې دې خو توره بلا خو پر دې ورو ماشومانو باندې زړه وسوځوه.

ما بې ځايه ټينګار وکړ:

ـ نه، نه زه نه ځم، په څومره سختۍ او خوارۍ سره مې کور جوړ کړی، لوږې او تندې مې تېرې کړي، اوس يې د

"ګلبدین" او "رباني" غلو ته پرېږدمه، څه ورځه هر چېرې چې ځې، زه نه ځمه.

هغه ګلالۍ تر لاس ونیوه او له کلا ووت، څو شپې لا نه وې تېرې شوې، چې یو توغندی د انګړ په منځ کې ولګېده، سرې لمبې او لوخړې ترې پورته شوې، خدای وساتلم، که نه زما او د مرګ هېڅ هم نه وو پاتې.

غمې مې راواخیست او په منډه منډه له کلا نه راووتمه، دا چې له کوځو نه مې څرنګه ځان د ښار بر لور ته تللي پوخ سړك ته ورساوه، هېڅ په ځان پوهه نه شوم. د خلکو په منځ کې ورګډه شوم، پر لارې روانه وم، ټول خلك روان وول. دا چې چېرې تلل دا هېچا ته پته نه وه. توغندي شا په شا ګړۍ په ګړۍ او شېبه په شېبه ډېرېدل، چیغو نارو الله اکبر ټول ښار او همدارنګه د آسمایي د غره لمنې لاندې دا پروت اوږد سړك نیولی و. چا ګلبدین ته ښېرا کولې او چا به رباني ته. د هر توغندي په لګېدو سره به ډېر انسانان مړه شول او مړي به یې هماغلته د لارې په سر د سړك په غاړو کې پاتې شول. ګلالۍ او پلار یې راڅخه ورك وو، ما د خلکو په منځ کې دې خوا او آخوا ته لټول، ګوندې ګلالۍ او پلار یې زما تر سترګو شي او پیدا یې کړم، خو د هغو هېڅ پته نه وه، زما ترخنګ یوه بله ځوانه ښځه روانه وه او خپله کوچنۍ لورکۍ یې چې ډېر یې ژړل تر لاس نیولې وه. دې هم ژړل زړه یې راته تنګ کړ، ومې پوښتل:

ـ ولې ژاړې؟؟ څوك دې مړه شوي؟؟
هغې نور هم ژړا ته زور ورکړ او راته يې وويل:
ـ هو! کور مې وران شو، خاورې مې په سر شوې د کور په مخ کې مې مېړه راته ولګېده او زه له دې خپلې لور سره همداسې راروانه شوم.
په دې وخت کې مې ښځې ته پام شو، هغه خوارکۍ دوه ځانې ښکارېده، رنګ يې په ساعت په ساعت تور اوښت، په ښځې څه کېدل. ځای پر ځای نوره ودرېده، غږ مې پرې وکړ:
ـ راځه څه کوې خورکې! وبه لګېږې، مړه به شې.
هغه نوره کېناسته، تندی يې سره ګونځې کړ او لاندې شونډه يې ټينګه تر غاښو لاندې کړه، راته يې په عذر وويل:
ـ نوره تلای نشم، دردونو اخيستې يم.
زه ددې خبرې په اورېدو وارخطا شومه، چې دردونو اخيستې، الله! دا څه وايې اوس به څه کوې؟؟
ټوله ځمکه واورې پوښلې وه، ښځه هم حېرانه وه او له مانه نوره لاره ورکه شوه. دا د لارې سر او دا يخنې! خدايه! ته رحم وکړې او دا رسوايي وی، اوس به څه کېږي؟ ماشوم به څرنګه زېږوي؟
په دې وخت کې يې پښې سستې شوې او پر ځمکه راکوزاره شوه. يو خدای پوهېږي، چې څرنګه مې له ځمکې نه راپورته کړه او د لارې له سر نه مې د سړك اړخ

ته کړه او زه هم ورسره څنګ ته کېناستم، پښو مې نور حرکت نه درلود، د یخنۍ له لاسه بې دمه شوه، په څادر کې مې راونغښته.

خلک روان ول، ټول لاروي په یوه منډه وو، د چا هم چاته پام نه و، هر یو په خپل غم اخته و، چې څرنګه ژر له دې ځایه ځان وباسي او ددې مرګ له لومي څخه ځان خلاص کړي. شېبه په شېبه د توغندیو غړونه رانږدې کېده، غمې غلې په غېږ کې مې ټینګ نیولی و، د ګلالي او پلار اند ېښنې مې یې زړه ځبېښه.

وړه نجلۍ د مور سرته ولاړه وه ژړل یې، اوښکې یې او پوزه یې بهېده، بیا به یې وړه ژبه له خولې راوویسته او خپل ګرنګ به یې وڅټل او مور یې له ژړا سره سم زګیروي پیل کړي وو. په دې وخت کې د ښځې ناري نورې هم اوچتې شوې، لاس یې رااوږد کړ، زما لاس یې راټینګ کړ او وحشتناکه کوکه یې له خولې راووته، الله مړه شوم! په دې آواز پورته کېدو سره د څو لارویو ورته پام شو او دوه تنه سرې له لارې راوګرځېده، په وارخطایۍ یې پوښتنه وکړه:

ـ "لګېدلې ده؟"

ما هېڅ ځواب ورنه کړ، ځان مې ناګاره واچاوه، ګوندې هېڅ مې نه دي اورېدلي، هغوی هم لاړل او خپله لاره یې ونیوله، بیا یې بله ناره وکړه. دا وار یې سترګې غتې راووتې او همداسې پاتې شوې. د واړه ماشوم

د ژړا غږ مې تر غوږ شو، تر ښادر لاندې مې سر وردننه کړ، لیدل مې چې د سپینې واورې په سپینه او پسته لمن کې یو لوخ ماشوم لاس او پښې وهي او په نازك غږ سره ژاړي. هغه مې راواخیسته، په غېږ کې مې ټینګ ونیوه، ترڅو لږ څه تود شي. ښځه مې وښورولـه، هرڅه نارې مې پرې وکړې، هغې نور غږ نه راته کاوه او نوره د واورې په شان سړه بې دمه او وچه دړه پرته وه. وړه نجلۍ یې هماغسې سرته ولاړه وه او ژړل یې. په هغه ښادر کې مې چې غمې تاو کړی و او لـه یخنۍ نـه مې نغښتی و، خلاص کړ چې له غمې سره یې یوځای ونغاړم. ښادر مې خلاص کړ، ګورم چې غمې پکې نشته، ښادر ما تش نغښتی و، د غمې پته پکې نه وه، چیغه مې کړه، غمیه! غمیه!

۱۳۷۷، کابل مکرویان

PROPERTY OF ACKU 12135

هوډ

یخ یخ باد د ګلالۍ پر مخ لګېده، دسرې یخنۍ احساس یې وکړ، بړستن یې پر پښو راکش کړه ترڅو توده شي او بیا د خوب غېږې ته ورشي، خو خوب ورځخه تللی و، ترڅو یې چې سترګې غړولې شپه اوښتې وه او سبا شوی و. د کوټې له ماتو کړکیو د لمر زرینې پلوشې دننه راننوتلې.

زرغونه او مېرویس دواړه خوا په خوا لاهم د خوب په ښکلې دنیاګۍ کې سره ورك وو، خدای پوهېږي، چې بیا به یې په خپلو ښکلو ښکلو سترګو باندې کومې وړې وړې او له ښکلا ډکې شېبې په خوب کې لیدلې.

ګلالۍ له ځایه راپاځېده، دواړه یې سره په مخ ښکل کړل، کله چې زرغونه یې ښکلوله داسې توده وه لکه د اور سکروټې، توده تبه یې درلوده. ماښام یې ګلالۍ ته ډېر ژړلي وو او سابه یې ترې غوښتل. ګلالۍ ورته وچه ډوډۍ ورکړې وه، خو هغې نه خوړله. هماغسې په ژړا ژړا

ویده شوې وه. ماشومان اوس هم په خپلو خوبونو کې ډوب وو او دلته ګلالۍ هم سوچونو او اندېښنو راګېره کړې وه.

خو له ټول تشویش او وېرې سره سره ګلالۍ تصمیم نیولی و، د هغې تصمیم ټینګ او نه ماتېدونکی و. هغې ټوله شپه په خپل تصمیم سوچ کړی و، د ښه والي او بدوالي ټولو ناوړه عواقبو ته یې غاړه ایښې وه، هغې د خپل تصمیم ټول اړخونه سنجولي وو.

هغې خپل زوړ ټیکری پر سر کړ او بیا د دویم ځل لپاره په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې روانې وې، د خپل زړه ټوټه زرغونه او د سبا ورځې امید میرویس پرمخ ښکل کړل. د کوټې ور یې په ډېرې کرارۍ سره ورو غوندې بند کړ، له انګڼ څخه راووتله او دروازې ته یې کولپ واچاوه. په کوڅه کې هېڅوك نه وو، د ګاونډیانو دروازې بندې وې، هغې ورو ورو قدمونه اخیستل. رنګارنګ سوچونه یې ذهن ته راتلل، زړه یې بې قراره و، یو ډول ډار او وېره ورسره مله وه. کوڅه ورته ډېره اوږده شوه، کله کله به یې له ځان سره ویل، چې بېرته کور ته لاړه شي...

خو نه! هغې خپل تصمیم نیولی و، ټوله شپه یې په دې اړه سوچونه کړي وو، بله لاره ورته پاتې نه وه، له ټول بني بشر څخه یې تمه پرې شوې وه. آخر دا څویمه ورځ وه چې هم د بشر او هم د فلك دروېزې ته ناسته وه، خو دا ځل

پوهېده، چې بس هم دا خپل تصميم به پوره كوي. بله لاره يې نه ليدله پرته له همدې..... لارې.

ګلالۍ چابك ګامونه اوچت كړل او د سرك غاړې ته يې ځان ورساوه. په لاره كې به يو يو لاروى، چې مخې ته ورتلو، نو هر يو ته به يې په ځير ځير كتل، خو هر لاروي به خپل سر كښته اچولى و او په خپله لاره به روان و. د چا به بوټان په پښو نه وو، د چا به يوه زړه بوجۍ په شا وه او د چا به دومره زړې جامې په تن وې، چې هسې به يې خپل ستر پرې پټ كړى و.

هر لاروي له ځان سره د سوچونو جلا جلا لړۍ درلوده. د هېچا، هېچا ته پام نه و، تا به ويل ګوندې په ټول ښار كې وير ګډ دى او د ښار بنيادمان د مرګ انتظار باسي.

ګلالۍ د سرك بل اړخ ته ځان رسولى و، خو بيا بيا به د خپل تصميم په اړه خپل ضمير ځورولو او زړه به وربانديې د احتياط احتياط غږونه كول. حېرانه وه، چې څه وكړي؟. څه ووايي؟ له خلكو سره څه ډول خبرې وكړي، څنګه ورته ووايي، چې زما سره...! هو خدايه! څه وكړم، زړه ته به يې ورتېر شول، چې دا څنګه حالت ورباندې راغلى دى؟ وبه وېرېدله، چې په كومه ټكه وانه وړي، زړه يې غوښتل، چې بېرته كور ته لاړه شي، ميرويس او زرغونه يې ستركو كې راتاوېدل، ځان سره به يې وويل:

ـ خدایه! هغوی به راویښ شوي وي، ژاړي به او ما به لټوي، هغوی به چېرته ماپسې سترګې غړوي او ژاړي به؟!!

خو هغې خپل تصمیم نیولی و او بالاخره هم دې کار ته یې ځان اړ باله. تر غرمې پورې یې ورځ نهاره تېره کړه، خو بیا هم په لوږه نه پوهېده. بېرته یې ځان د سرك یوې غاړې ته ورساوه.

په سرك باندې له لیرې نه یو سور رنګی موټر راښکاره شو. داسې بریښېده، چې د وسله والو ګوندونو کوم مهم سړی به وي. هر څومره چې ګلالۍ ته نژدې کېدو ارندونه یې وهل، کله چې ښه رانزدې شو موټر خپل حرکت ورو کړ. موټر ته ناست سړي ښه په ځیر ځیر ګلالۍ ته وروکتل، تکه توره مونډۍ ږیره او پکول یې په سر و، پلنګي جمپر یې اغوستی و او تکه زېړه ګړۍ یې په لاس وه. موټر یې هغې ته نژدې کړ او ورته وې ویل:

ـ راځه چېرته ځې؟ موږ به دې ورسوو.

ګلالۍ شاوخوا وکتل پرته له ځانه ورته هلته څوك ښکاره نه شول، هغه پوهه شوه، چې ډرېور دې ته دا خبره وکړه، په ډېره وېره یې ورغبرګه کړه:

ـ ماته وایې؟

ـ هو کنه! تاته وایم، راځه څه ته ماتله یې موټر ته راوخېژه!.

د هغې پښو حرکت نه درلود، ریږدې ریږدې ګامونه یې بالکل بې دمه شوي وو، پل یې نه شو اخیستی، زړه یې نه کېدو چې موټر ته ورپورته شي، خولې وربانديې د سېلاب غونديې ورماتې وې، خو هغې ته پرته له همدې بله لاره نه وه ورپاتې.

سړي د موټر د شا دروازه خلاصه کړه، ګلالۍ موټر ته ورپورته شوه او د شا په سیټ ورکېناستله، موټر روان شو او په لاره د باد په څېر روان و.

په هم دې وخت کې سړي د موټر مخامخ شېشه دې ته ورسمه کړه او ورته ځیر شو. بیا یې خوله مسکۍ غونديې شوه، په خوښۍ یې زیاته کړه:

ـ ښه! نو دا راته ووایه، چې چېرته دې ورسومه؟.

هغې ځواب ورنکړ، هغې سره ددې پوښتنې ځواب نه و، هغې ته خو خپل منزل نه و معلوم چې چېرته ځي! د څه دپاره روانه ده؟ چا سره روانه ده؟ او...... حېرانه وه.

ډرېور سکوت مات کړ:

ـ ولې خبرې نه کوې؟ کومه بې ادبي خو به مې نه وي کړې، چې غلې ناسته یې.

ګلالۍ بیا هم خپلې شونډې ګنډلې وې، هر څه ترې هېر وو.

هغه ورو غوندې ورغږ کړ:

ـ ما سره مېلمنه کېږې؟

ګلالۍ ددې خبرې اورېدو سره تکان وخوړ، ځواب یې ورکړ:

ـ زه خو یوه غریبه کونډه یم، یوه لور او یو زوی لرم، دا څلور شپې کېږي، چې هېڅ شی مو نه دي خوړلي، له پرونه راهیسې مې زوی او لور له خبرو پاتې شوي دي، دواړه دومره سخت مریضان دي، د دوی د علاج دپاره هېڅ زما..."

د هغې خبره لا خلاصه نه وه، چې ډرېور ورو خپل لاس شاته وراوږد کړ او د هغې په ورانه یې فشار ورکړ، هم دا چې لاس یې د هغې له ورانه سره ولګېد ټول بدن یې وربږدېدو او یو ډول یخني یې وشوه. ځان یې لږ څه سره راونغښت او دده لاس یې له خپل ورانه څخه لیرې کړ.

هغه مسکی شو، خپل سر یې وخوځاوه او زیاته یې کړه:

ـ ټولې په اول سر کې داسې خبرې کوي، خیر دی پروا نه لري، دا خبرې به پرېږدو، له ما سره ځای شته، نن به دې زه ښه ونازوم، خو دا مخ دې لږ راښکاره کړه، چې پوه شم آخر څومره ارزښت لرې؟

په داسې حال کې، چې د ګلالۍ لاسونه له ډېرې وېرې لکه پاڼه رېږدېدل، خپل شلېدلی پلو یې لږ څه له مخ نه لیرې کړ، هغه خپل مخ ورواړوه، په تورو شونډو یې خندا راښکاره شوه... سمه ده، سمه ده.

موټر روان و، له ډېرو سرکونو او کوڅو تېر شو، میرویس او زرغونه دواړه د هغې په سترګو کې ولاړ ول. په ځان نه پوهېدله، زړه یې په اندېښنو کې ډوب و، وېرې او وارخطایۍ یې روحیه خفه کړې وه، غوښتل یې چې چیغې ووهي، خو نه، نه، هغې خپل تصمیم نیولی و او ټوله شپه یې د هغه په اړوند سوچونه کړي وو. موټر هم داسې روان و، سړي هم له ځانه سره څه ویل خو د ګلالۍ سر پرې نه خلاصېده.

موټر له څو کوڅو نه تېر شو، بیا د یو ښکلي کور مخې ته ودرېد، ددې کور شاوخوا کورونه لړ څه د جګړې له امله ژوبل شوي وو، خو دې کور ته کومه خساره نه وه رسېدلې. سړي د انګړ دروازه خلاصه کړه، ګلالۍ ته یې اشاره وکړه، چې انګړ ته ورننه شي، د هغې پښو دمه نه لرله، وحشت او ډار ګړۍ په ګړۍ زړه یې ورته په منګولو کې ټینګاوه. په زحمت سره له موټر نه ښکته شوه، انګړ ته ورننوتله، هغه سم دلاسه دروازه بنده کړه.

یوې ډېرې ښکلې کوټې ته یې دننه بوتله، کوټه په سرو غالیو باندې سینګار شوې وه او د سره انار په شان ځلېده. هغې ته په دېوالونو بربنډ بربنډ تصویرونه ښکاره شول. هغې په سترګو لاسونه ونیول، ټول بدن یې خوله خوله او لمبه لمبه شو. هغې چیغه کړه: په هم دې وخت کې یوه وحشتناکه خندا یې تر غوږ شوه. تر ملایې لاسونه راتاو شول، ګلالۍ ته د زرغونې ګرمه تبه تر سترګو شوه،

زړه یې له ویرې بې حاله و، زړه یې پټ پټ ژړل، شیبه په شیبه یې د زړه ژړا سترګو ته راتله او د ګرم سیند په څېر یې اوښکې په رخسار رابهېدلې.

ګلالۍ، چې ځان ته پام شو نو هغه هم د دېوال د تصویرونو په څېر شوې وه، هغې زر زر خپلې جامې په تن کړې، ترخنګ یې د ځناور په شان برېنډ سرې پروت و، خولې پرې راماتې وې، د سختې ستومانۍ احساس یې کاوه، هغه خپل پلنګي جمپر راواخیست او په جېبونو کې یې لاس وواهه، څه پیسې یې راوکښلې او دې ته یې په لاس کېښودلې.

ګلالۍ خپلې جامې واغوستې، پیسو ته یې وکتل او سوچ یې کاوه، چې په څومره سختۍ او په څومره لوړ قیمت یې ګټلې دي، هغه پرې غږ وکړ:

ـ څه ته ګورې؟ تاته مې ډېرې درکړې، باور وکړه دومره مې چاته... نورې ښځې خو سرې لوڅوي او ګوره ته څومره ښه او خاموشه ښځه یې، څه لاړه شه، بیا دې بل وخت بیا هم...

هغه د انګړ دروازه خلاصه کړه او ګلالۍ ته یې وویل، چې څه نور دې الله مل شه، رسول دې پرما نه دي، پوهه شوې کنه!

ګلالۍ غلې ولاړه وه، دې ورته نور هم برګ شو:

ـ څه کنه! په خبره پوهېږې که نه؟

هغه هماغسې بې روحه ولاړه وه، حېرانه وه چې څنګه به د خپلې جونګړې لار بیامومي. هغه پورې وهله او دروازه یې پسې بنده کړه. ورځ ډېره تېره شوې وه، د کور لار د خوارکۍ نه ورکه وه، دغه ځای یې نه پېژندلو، بېرته وروګرځېده او دروازه یې ودبوله، هغه دروازه خلاصه کړه او په غوسه یې ورته وویل:

ـ څه غواړې؟ بس دې نه دي؟

د ګلالۍ زړه پرسېدلی و، ستوني یې ډډ شوی و، په ژړغوني غږ یې ورته وویل:

ـ ما خو د کور لار نه ده لیدلې، ته مې بېرته هماغه ځای ته ورسوه.

سړي ترخه شان خندا وکړه:

ـ څه! څه! بدکارې ښځې زه خو دې د پلار مزدور نه یم، څه له بل یوه سره، کوم بل څوك به دې ورسوي... او هم دې سره یې دروازه کلکه بنده کړه.

ګلالۍ پیسې په موټي کې ټینګې نیولې وې، زمکې ته یې نه شوای کتلی، له زمکې او آسمان او له خلکو شرمېده، سوچ یې کاوه چې ټول خلك ورباندې لعنت وایي او لاړې ورباندې توکي. هغه روانه وه او یوه منظره یې تر سترګو کېده، چې خلکو ورباندې لاړې توکلې. سپین ږیرو، ځوانانو، ښځو او ماشومانو ټولو ورباندې لاړې توکلې، د خلکو په هم دې ګڼه ګوڼه کې یې میرویس او زرغونه هم ولیدل، چې لاس په لاس راروان ول. کله چې

دې ته نږدې ورسېدل، هغوی هم لاړې ورباندې تو کړې او ورباندې تېر شول.

د میرویس او زرغونې په لاړو توکولو سره د ګلالۍ بدن وربېږدېده، شاوخوا یې وکتل، نه میرویس و او نه هم زرغونه، هغه په لارې یوازې روانه وه. د کور لاره تېرې ورکه وه، له خلکو یې پوښتنه وکړه، ډېره لرې راغلې وه. نږدې ماښام و، چې د کور لاره یې پیدا کړه، په منډه منډه کور ته ورغله، د انګړ دروازه یې ژر ژر خلاصه کړه، د کوټې په لور یې منډه واخیسته، د ټیکرې په پلو کې توده ډوډۍ او نور خواړه یې راخلاص کړل.

له ځان سره یې فکر کاوه، چې په ډوډۍ کې د کبابو تېز بوی به اوس میرویس او زرغونه حتماً دې ته اړ کړي، چې په یوه منډه ځان دې ته ورورسوي. کله چې کوټې ته ننوته میرویس او زرغونه دواړه لا هماغسې په خواړه خوب ویده ول. ګلالۍ د هغوی په سر ودرېدله، له شرمه یې ورته نه شوای کتلی، د دوی سرته کېناستله، هغې د میرویس په پټو سترګو خپله خوله کېښوده، هغه یې ښکل کړ چې ګوندې راویښ شي، خو د هغه بدن ورته سوړ ښکاره شو، لړ یې وښوراوه:

_ میرویسه! میرویسه!!

میرویس هېڅ ځواب ورنه کړ، بیا یې زرغونه وښوروله، هغې هم ځواب نه ورکاوه، ګلالۍ نارې کړې:

ـ میرویسه زویه! زرغونې لورې!! پاڅېږئ بچو! ما تاسو ته توده ډوډۍ او کباب راوړي.

خو هغوی په خپلو خوبونو کې ډوب وو، هغوی د ګلالۍ نه هم داسې مرور مرور سترګې پټې کړې وې، د هغوی پټو پټو سترګو دا یو یو ځواب ورکاوه.

د دوی اروا ورته د ماښام په تیاره کې خندل، دا یې توهینوله، پردې یې لعنتونه ویل، دوی ورنه د همدې ماښام په تورتم کې ځواب غوښت:

ـ ولې مورې؟؟ دا دې څه وکړل.؟؟ مورې دې یوازې پرېښودو؟؟ ته لاړې، تا سره که هیڅ نه وو، نو مور دوه خو درسره وو، ته به هم زموږ سره تر هم دې یوازې چت لاندې د ابدي خوبونو په خوږې دنیاګۍ کې تللې وې، دا خو ډېر بهتر و مورې!!

کابل، مکروریان
میزان ۱۳۷۵

خپل وطن کشمیر دی

د ښوونځي وروستی کال مو و، شپې او ورځې په ډېره خوشالۍ سره تېرېدې، ما د انګرېزي ژبې ټول کورسونه ختم کړي وو، اوس مې کولای شو چې په انګرېزي ژبه پوره وغږېږم.

موږ د پېښور ښار په یوه ښکلې سیمه کې، چې د حیات آباد په نوم یادېده ژوند کاوه. په دې سیمه کې اکثراً هغه مهاجرو ژوند کاوه، چې د کورنۍ یو یا دوه تنه غړي به یې یا په لندن کې و یا امریکا او جرمني کې او د بهر په پیسو به دا کورنۍ اکمالېدې. پېښوریانو خپل کورونه په دې سیمه کې نسبت د پېښور نورو سیمو ته په ګرانه بیه ورکول.

زموږ ژوند ښه تېرېده، زما اکا هره میاشت له امریکې نه موږ ته څه ډالرې رالېږلې او زموږ ګوزاره ښه روانه وه. د ځوانۍ شپې او ورځې وې، له خپلو ټولګیوالو سره به مې تل د راتلونکي ژوند په اړوند خبرې اترې کولې، ډول ډول سوچونه به مو په سر کې ګرځېدل راګرځېدل.

اکا به مې تل له پلاره سره زيار ويست، چې په څه ډول زموږ کورنۍ هم امريکې ته وروغواړي. دا زموږ د کورنۍ يوازينۍ هيله وه. مور خوارکې به مې هره ورځ لمونځونه او ثوابي نفلونه کول. همدارنګه ډېر نذرونه او خېراتونه يې په غاړه اخيستي وو، ترڅو د امريکا تګ ارمان يې ترسره شي.

هو! زما لپاره ډېرې مرکې جرګې تلې راتلې، خو زما کورنۍ دا غوښتل چې هلك بايد په يوه بهرني هېواد کې وي، بل شرط دا و، چې هلك ښکلی ځوان وي او بايد له ما سره يوځای زما مشر ورور هم له دې ښاره وباسي، نو تراوسه په دې شرطونو برابر کومه کورنۍ نه وه پيدا شوې.

زما هم خارج ته تلل او اروپايي هېوادونه ډېر خوښېدل. دا زما د زړه يوازينی ارمان و، چې کومه ورځ به لندن يا امريکا کې زما کوژدنه وشي. هره ورځ به چې له ښوونځي نه کور ته راغلم، نو هرومرو به مې په کېبل کې امريکايي خپروني ليدلې او اروپايي جامې به مې ځان ته جوړولې، تل به مې له خپلې نژدې ملګرې پلوشې سره چې يوځای مو په يوه ښوونځي او يوه ټولګي کې زده کړې کولې،په دې خبرو جنګ کاوه.

پلوشې به تل راته ويل هرچاته خپل وطن کشمير دی، هغې له کابل او وران هېواد سره مينه درلوده. پلوشې به دا ارمان کاوه چې ښوونکې شي او کابل کې کراري شي او بېرته کابل ته لاړه شي. زموږ ټولګيوالو به هغې ته ويل ته په دې ځوانۍ کې دومره زړه مفکوره لرې. پلوشې ځرنګه چې دې نوم دی بايد هماغسې په رڼاګانو پسې لاړه شې، ته په تيارو پسې ځې.

هغه ورځ مې ښه په ياد ده، د پنځ شنبې ورځ وه، غرمه له ښوونځي نه کور ته راغلم، درې تنه ښځې موږ کره مېلمنې

راغلي وي. ډېرې قيمتي جامې يې په تن کړې وې، هغوی د مېلمنو په خونه کې ناستې وې، مور مې مخې ته راووته او راته يې وويل:

ـ ژر دې جامې بدلې کړه، د چايو پطنوس کوټې ته راوړه، ښځو ته ستړې مشې ورکړه.

ما هم همداسې وکړل. کله چې مېلمانه لاړل، مور مې خوشاله غوندې وه، ماښام يې زما پلار ته وويل:

ـ هلك په لندن کې دی، بيا پورته شوه د کوټې له الماری څخه يې يو تصوير راواخيست زما د پلار په لاس کې يې ورکړ او بيا يې په صفتونو خوله خلاصه کړه، چې د يوه بډای کورنۍ څخه دی، دلته مور او تاسو په کرايي کورونو کې اوسېږو، هغوی همدلته ځانته کور لري. د خوب په وخت کې کله چې ټول ويده شو، زما په زړه کې تلوسه راپيدا شوه، له ځايه پاڅېدمه، له الماری څخه مې تصوير راواخيست، چې څرنګه دی؟ کله مې چې تصوير وليده، حېرانه شوم، باور مې نه راته چې دومره ښکلی هلك دې ما پسې په ريښتيا مرکه راشي، زړه مې غوښت، ټوله شپه تصوير ته وګورم، خو له مور او کورنۍ نه حيا راتله.

سهار چې ښوونځي ته لاړمه، پلوشې ته مې ټوله کيسه وکړه. راته يې وويل:

ـ څه خدای دې دا ارمان ترسره کړه.

په هغو شپو ورځو کې زما کوژده ترسره شوه، د کوژدنې په سهار مې د "قهار" تصويرونه ټولګي ته وړي وو، ځينې جينکۍ خوشاله او ځينې نورې خپه شوې، قهار ډېر ښکلی و، پلوشه خوشاله شوه.

د کوژدنې مو درې ورځې تېرې وې، چې يو ماښام کې قهار مور ته کره ټيليفون راوکړ. پلار مې غوږۍ پورته کړه، ورسته له پوښتنې او پېژندنې څخه لنډې خبرې يې وکړې، بيا مې غوږۍ مور واخيسته بيا نو ورور مې خبرې ورسره وکړې، ورور مې له لنډو خبرو څخه وروسته غوږۍ مور ته ورکړه، هغې ماته اشاره وکړه، چې راشه خبرې وکړه. په دې وخت کې ټول بدن مې لکه پاڼه غوندې رپېده، لاسونه مې رېږدېدل، غوږۍ مې نشو نيولی په ډېر مشکل سره مې ورسره خبرې وکړې. قهار راته ډېر ټينګ شو، چې څه غوښتنه لرم ورته ووايم، خو ما ځواب ورنه کړ. بيا يې راته وويل:
ـ پينځه سوه پونډه درلېږم، بازار ته لاړه شه او هرڅه چې دې خوښيږي، ځان لپاره يې واخله دا زما لومړۍ تحفه ستا لپاره ده.

ډېر ښکلی غږ يې و، خوږې خوږې او نرمې له مهربانۍ څخه ډکې خبرې يې کولې، ټوله شپه د قهار غږ زما په غوږونو کې و.

شپې او ورځې تېرېدې، قهار هره اونۍ يو ځل خبرې کولې، هغه راتلی نشو، زما د پاسپورټ کارونه يې په ډېر مشکل سره ترسره کړل. د واده لپاره يې زما له کورنۍ څخه او بيا له پلار څخه ډېر عذرونه وغوښتل، هغه ونشو کولای چې د واده مراسمو ته راشي. د واده شپه مو تېره شوه، د پېښور په يوه ښکلي هوټل کې واده ترسره شو، ډېر مېلمانه راغلي وو، ښه ښه خوراکونه مېلمنو ته ورکړل شو، قهار د موبايل په ذريعه د نکاح په مراسمو کې ګډون وکړ، نکاح مو ترسره شوه، څو ورځې وروسته له واده زما د سفر بکسونه وتړل

شول، قهار وعده کړې وه، چې زما له رسېدو وروسته به زما مشر ورور ضرور ورغواړي. مور مې له پلار سره ډېره خفه وه، د اسلام آباد په هوايي ډګر کې مې مور ډېر وژړل، ما هم ژړل، خو د قهار ليدو ته مې تلوسه ډېره وه.

آلوتکې يوه ناسته په دوبۍ کې وکړه او بيا دويمه ناسته يې لندن کې وه. څرنګه چې له الوتکې نه کوزه شوم، د نورو مسافرينو منځ کې زما کاغذونه هم وليدل شول. د هوايي ډګر ترمينل ته راورسېدمه، د خلکو ګڼه ګوڼه وه، ما د خلکو منځ کې قهار لټاوه، په دې کې تقريباً د پنځوسو په شاوخوا کې يو دريشي کړی سړی، چې د ګلانو ښکلې ګېډۍ يې په لاس کې نيولې وه، زما هرکلي ته راوړاندې شو.

سکون

څومره، چې پانه ښکلې وه او له ښکلا سره يې مينه درلوده، هومره يې بدرنګه څېرې هم خوښېدې. هغې له ټولو څېرو سره مينه درلوده، تور پوټکی، غټې شونډې، وړې سترګې، بدرنګه پوزه، دا ټول د پانې خوښېدل. هغې به په دې څېرو کې مظلوميت او معصوميت ليده او ځان به يې له هغو سره ډېر نژدې ګاڼه.

هو! څرنګه چې مو وويل، ښکلا يې هم خوښېده، خو يو عادت يې دا و، چې د ګلانو رنګونه، د باران شاعرانه شپې، د واورې سپينې ملغلرې، چې په ګډا ګډا به

ځمکې ته راکوزېدې، د سېند مستې څپې، واړه ښکلي سويان، سيرلي او د هغو خواږه آوازونه او داسې نور دې ټولو به پاڼې ته سکون ورکاوه، خو پاڼې اوس دا ټولې ښکلاوې خپل ښکلي سليم کې ليدلې.

هغې له سليم سره په مينه واده کړی و، که څه هم سليم په ښاپست کې له پاڼې نه باندې و، ښکلې ځواني يې درلوده، سور او سپين مخ، توري ښکلې سترګې، جګه لوړه پوزه، سرې د ګلاب د غوټې په شان ښکلې شونډې، جګه ونه او ډډ وجود... سليم ددې خوبيو تر څنګ ډېر مينه ناك هم و.

کله به چې پاڼه د سليم د ښکلا په ننداره شوه، بيا به خپل ځان ورته پاتې راغی. همدا وجه وه، چې پاڼه به تل له ځان سره ځوريدله.

د سليم او پاڼې د ژوند لوی شريك راز دا و کله چې به پاڼه ناروغه شوه، نو د سليم غېږې به ورته سکون ورکاوه، پاڼې به خپله روغتيا بېرته موندله، نو کله به چې سليم خفه او يا ستومانه و، نو پرته دپاڼې له غېږې نه به يې بل په هېڅ څه کې کرار نه موند، که څه هم له واده نه يې نژدې يو کال تېرېده، خو پاڼې او سليم دا سوچ کاوه، چې پرون يې واده کړی، خو دا څو ورځې دا هرڅه بل شانته و.

سليم په دا دوه ورځو کې ډېر بدل بدل ښکارېده. هغه له پاڼې نه ځان ټولاوه، يوازې په سوچ کې به لاړ. د هغه په

سترګو کې د یو درد علامې ښکارېدې، کله کله به یې سترګې اوبلیزنې وې، ډېرې مړاوې ښکارېدې.
پانه هم د سلیم دې حالت ته ډېره ځورېده. هغې ډېر زیار ویست ترڅو د سلیم د زړه په راز پویه شي، هرڅه به یې سلیم تاو راتاو کړ، خو ګټه یې نه درلوده. سلیم به بیا خبره ورڅخه پټوله او بیا به یې پلمه جوړه کړه او پانې ته به یې وویل:
- ډېر خفه یم، په دې چې پرون ماښام مې درسره جنګ وکړ او ته مې په څپېړه ووهلې. اوس ځان راته ډېر ګرم او ملامت ښکاري. آیا څوك خپله معشوقه په څپېړه وهي؟
دا خبره به د سلیم له خولې راووته، خو د پانې د زړه تسل به په دې خبره ونه شو او پانې ته به دا ځواب د سلیم یو دروغ ښکاره شو اوس نو سلیم پانې ته د هاغه سالار په شان ښکارېده، چې په جګړه کې یې ماته خوړلې وي او وروسته په شا راغلی وي پانې د سلیم په سترګو کې د یوې سترې ماتې انځورونه لیدل، خو ځان ورته ډېر ملامت ښکارېده، چې ولې سلیم هرڅه ورڅخه پټوي. د سلیم ستومانه وجود، سترې سترې خبرې، اوبلیزنې سترګې او مړاوې څېره دې ټولو پانه ځوروله.
اوس پانه د کمپیوټر د مېز شاته ناسته وه، د کمپیوټر یو پروګرام یې خلاص کړی و، په هغه کې د سلیم د مینې خوږې شېبې او خوږې خاطرې سیف شوې وې، د پانې له سترګو هم اوښکې روانې وې، نن ځان ورته یو بې ارزښته

موجود ښکارېده، پر ځان یې ژړا راغله او خپل ځان یې ورته یو کمزوری او بې وسې ښکاره شو، چې ولې نشي کولای د خپل ښکلي سلیم د زړه غوټه خلاصه کړي او دا راز ورڅخه واخلي او خپلې غېږې ته یې وروبلي، ترڅو سلیم خپل پخوانی سکون بېرته ترلاسه کړي.

د اپریل ۲۰۰۴/۲۹
ګلبرګ صدر، پېښور

وروستۍ نښه

د میوند د ژړا د چیغې په اورېدو سره غوټۍ په خوب کې سخت ټکان وخوړ او له ځایه پاڅېده. د خپلې بسترې څنګ ته یې د میوند خوب ځای ته وکتل، میوند په خوب ځای کې نه و وارخطا پاڅېده، ځان سره یې وویل: خدای دې واخله، ټوله شپه دې راباندې سبا کړه، دا نیم ساعت مې سترګې سره ورغلې خوب ته مې نه پرېږدې.

د خونې دروازه نیم کښه وه، دهلیز ته ورووته، ناڅاپه یې د میوند په بې ځانه وجود سترګې ولګېدې، چې د برق د ساکت خوا ته بې هوشه پروت و.

غوټې نه لاره نوره ورکه شوه، ژبه یې ګونګې شوې وه، په کور کې شور ماشور جوړ و، په دې وخت کې غوټۍ په ملا باندې د یو سخت ګوزار سره د یو درد احساس وکړ. د ستار سترګې چې د سر د کاسو څخه وتلې وې، په غوسه باندې راټیټ شو غوټۍ ته یې په اشاره وویل:

ـ مړ دې کړ، ښه شو تږوله ورځ په مکتب کې ورکه یې له هلك نه او کور نه خبره نه یې، سر دې د پرېکېدو دی، دا زه یم چې ډوډۍ درکوم.

دا وخت غوټۍ ته ځان ډېر ملامت ښکارېده، سترګې یې له اوښکو راډکې وې او میوند یې په سینه باندې جوخت نیولی و، زر زر یې ښوراوه، په یوه ساه یې وویل:

ـ میونده، میونده بلا دې واخلم، سترګې راپورته کړه.

ستار نه پوهېده او له غوسې نه راخوټېده، په دې وخت کې بل سوك یې د غوټۍ پوزې ته برابر ورکړ، چې د سوك په ګوزار د غوټۍ له پوزې د وینو شر شو. میوند یې د هغې له غېږې راواخیست، غوټۍ هیڅ ځواب نه درلود، له ځایه پاڅېده ژر یې خپل مخ ته یوه لپه اوبه واچولې او په داسې حال کې چې وینې یې له پوزې بهېدلې، خپل لوی خړ څادر یې په سر کړ او د ستار له غېږې یې میوند واخیست. له کوره ووته په کوڅه کې زر زر روانه وه او میوند یې ټینګ په خپلې سینې پورې نیولی و او د ریکشا په لټه کې وه، چې زر تر زره ځان روغتون ته

ورسوي. عمومي لوی سرك لږ څه لرې و، په کوڅه کې له شاه نه د ریکشا غږ شو، دا ودرېده ریکشاه راغله، لاس يې ورته ونيوه، خو په ريكشا کې خلك و او همداسې يې له څنګه تېره شوه، بيا د لېونی په شان اوتره اوتره روانه وه، خدای يې قسمت ښه کړی و، يوه ټکسي په کوڅه کې راښکاره شوه، هغې لاس ورته ونيوه او پرته له دې چې ورځخه د کرايې پوښتنه وکړي، ورو ختله او د روغتون پته يې ورکړه. کله چې ځان يې په ټکسي کې د شاه سيټ کې ځای په ځای کړ، په دې وخت کې يې د ميوند مخ لوخ کړ، بې اختياره يې له خولې چيغه راووته:

_ ميونده، ميونده.

په داسې حال کې چې اوښکې يې له سترګو او وينې يې له پوزې رابهېدې او په يوه ساه يې همدومره ويل:

_ ميونده ميونده، ميوند لږه لږه ساه ايستله او سترګې يې نشوې پورته کولی.

په دې شېبو کې روغتون ته راورسېده، کله چې له موټره راکښته کېده، ډرېور ورته وويل:

_ خورې زما کرايه؟

هغې وليدل، چې ځان سره بې پيسې نه دي رااخيستي لاسونه يې تش ورښکاره شو او ډرېور وار په وار تکرار کاوه، هغې خپل ګوتو ته وکتل بيا يې هغه يوازې د واده نه وروستی‌نښه د سرو زرو ګوته له ګوتې نه راووېسته او ويې ويل:

ـ وروره! زما زوی خو ګورې چې په کوم حال کې دی، راته مړ کېږي، ګوره زه دلته په روغتون کې یم زما پاتې پیسې راته راکړه او یا همدلته اوسه ما به بېرته ورسوې، بیا به زه کور ته په بېرته رسېدو سره ستاسو پیسې درکړم.

په دې باور روغتون ته دننه لاړه.

ډاکټرانو میوند د معاینې په میز څملاوه او د پښې پوښتنه یې له غوټۍ څخه وکړه. هغې خوارکۍ هم ټکې په ټکې ډاکټرانو ته وویل او ساعت پوره نه و، چې میوند سترګې رونې کړې او دا توره شپه په غوټۍ رڼا ورځ شوله. له خیراتي درملو اخیستو څخه وروسته بېرته د کور په لوري راروانه شوه، د روغتون په مخه کې یې هغه ټکسي لټوله، چې موټروان ورڅخه د سرو زرو ګوته اخیستې وه. ډېره وګرځېده، خو نه د ټکسي خبرو او د موټروان. بیا بس ته وربورته شوه، ترڅو ځان زر تر زره کور ته ورسوي..

د بس کلینر راغی کرایه یې غوښته. هغې د نه ځواب ورکړ: کلینر ورته له غوسې نه سور او شین شو او موټروان بس ودراوه او غوټۍ مجبوره شوه، چې له بس نه ښکته شي. په داسې حال کې چې میوند یې په غېږه کې نیولی و د کور په لوري روانه شوه. په دې وخت کې ځان ته یې پام شو، ګورې چې په پښو یې څپلۍ نشته او پښې ابلې له کوره راوتلې ده، زړه یې خفه و.

له يوې خوا د ميوند برق نيول، له بلې خوا چې موټروان ورځخه د سرو زرو ګوته يوړه او اوس به ستار ته په کور کې څه ځواب ورکوي.؟ او دريمه ستونزه يې دا وه، چې نن د مارچ د مياشتې اتمه يعنې د ښځو نړيوالـه ورځ وه او په ښوونځي کې سرښوونکي ورته ددې ورځې په اړوند ډېر سفارشونه ورکړي وو، ترڅو ښه مطلب وليکي او په غونډه کې يې ولولي، که نه نو بيا يې د معلمۍ د نيمايي مياشتې معاش ورځخه کټ شي.

۸ مارچ ۲۰۰۴،
ګلبرك

د ننداري ارمان

د ننداري يو ځل بيا په هغو جامو سترګې ولګېدې، چې د خوب د پالنګ په سر پرتې وې، له لږې شيبې سوچ وروسته يې يو سور اوسېلی له خولې راوويست او بيا په سوچ کې لاړه.

نن يې له سهاره څه نه و خوړلي، غرمه وروسته له دې چې د ارمان د مور، ترور او نورو د کلي نه راغلي مېلمنو ته يې په ډېر ښکلي ذايقې سره دسترخوان غوړولی و او د څو ډوله خوندورو خواړو په کېښودو سره بيا هم د ننداري خوراك ته زړه نه پورته کېده. د ارمان مور ډېر زيار وويست، ترڅو ننداره يو څه وخوري، خو د ارمان د مور په هر وار ست کولو به د ننداري له سترګو اوښکې راتويې شوې، هغې د ارمان د مور په هره کلمه کې د ارمان مينه او د هغه غږ لټاوه.

کله به چې د ننداري له سترګو اوښکې راتویې شوې ارمان او د هغه خوږې خبرې مینه او ښکلا به چې په زړه وورېده، بیا به یې په ډېرې بې تفاوتۍ سره د ارمان مور د ننداري په دې ادا پورې وخندل او په ډېر غرور سره به یې وویل:

ـ بې غیرتې زړه دې لوی کړه، ښځې په مېړو پسې نه ژاړي، تر ما هم پر تا ډېر ګران دی؟ ماته خو وګوره څومره لوی زړه لرم، خلك به درپورې وخاندي.

دې خبرو به هم ننداره نوره خپه کړه او زړه به یې نور هم د ارمان او د ارمان د مینې په لټه کې شو او هغه به یې یوازې د ځان وباله.

ننداري د خپلې خوب په کوټه کې د ارمان ډېر تصویرونه په دېوالونو زړولي وو، خو په دې تصویرونو باندې د هغې د نظر تنده نه ماتېده، هره شپه به یې د ارمان د تصویرونو البومونه راواخیستل او په مینه مینه به یې ورته کتل. بیا به یې یوه یوه خبره ور په زړه شوه او سترګې به یې له اوښکو راډکې شوې، د یوې بې وسې ماشومې په شان به یې وژړل.

ننداري له اوږده سوچ وروسته یو ځل بیا د پالنګ په سر پرتو جامو ته پام شو، دا جامې د ارمان ډېرې خوښېدې او تل به یې ننداري ته ویل، چې دا جامې اچوه، تا سره دا ډول جامې ډېرې ښې ښکاري.

نن هم ننداري په دې جامو کې خپل ارمان لټاوه، هغه يې رااخيستې وې چې وايي غونډي او خپل ناکراره زړه لږ څه پرې کرار کړي. جامې يې ښکل کړې، له لمبا څخه وروسته يې جامې په تن کړې، د سينګار مېز مخې ته هنداري ته مخامخ ودرېده، په جامو کې يو ځل تاوه راتاوه شوه او د خپل ځان په ننداره شوه. نن هغه پوه شوه، چې په ريښتيا دا جامې د هغې په تن کې ښکلې ښکاري. خپل ويښتان يې ږمنځ کړل او په قيدك کې يې ټينګ کړل، بيا د خپل ځان په سنګارولو بوخته شوه. کله چې د ځان د سينګارولو څخه وزګاره شوه، يو ځل بيا يې ځان ته پام شو او همدارنګه د خپل ځان په ننداره شوه. موسکۍ غونډې شوه او په جامو کې تاوه راتاوه شوه، خو نن دې جامو د پخوا په شان خوند نه ورکاوه، ځانته غوسه شوه او بيا تشناب ته لاړه او خپل مخ يې پاك ومينځه، ځان سره وبنګېده، ولې ځان سنګار کړم؟ د څه لپاره؟ د چا لپاره؟

د ارمان خبرې ور په زړه شوې، چې د تګ نه مخکې په هغه ماښام يې ورته کړې وې:

ـ ګوره سبا به مې په ډېره مينه او خندا رخصتوې، کنه نو بيا زه هلته کار نشم کولی، د څو ورځو خبره ده که ته خپه کېږې بيا نه ځمه.

ننداره پوهېده، چې دا د هېواد دلپاره ډېرې اساسي ورځې دي. د هېواد او خلکو د سرنوشت د ټاکلو ورځې

دي، ارمان مجبور دی چې ولاړ شي، ولې چې هغه یو ښه راپورټر دی او دا فیصلې او پرېکړې خلکو ته ورسوي.

خو نن ننداري ویل کاشکې، چې انکار یې کړی وای او ارمان یې تلو ته نه وای پرېښی. د هغې ستوني ډډ شوی و او ژړا ته چمتو وه، چې په دې وخت کې په موبایل کې زنګ راغی، زر له ځایه وارخطا پاڅېده او موبایل ته یې وکتل، نمبر پکې نه ښکارېده، له لیرې ځایه و، هغه پوه شوه، چې ارمان یې یادوي.

د موبایل تنۍ یې ټینګه کړه او د هیلو په ویلو سره یې د ارمان غږ واورېدلو. له سترې مه شي وروسته یې ډېر زیار وویست، چې خپل خپګان پټ کړي، خو نه کېده. ارمان یې په غږ پوه شو، ننداري ډېر وژړل او په ژړغوني غږ یې وویل:

ـ ارمانه! زه درپسې ډېره خپه شوې یم، ته مې ډېر ډېر یاد یږې.

ارمان ورته په خندا شو:

ـ لېونۍ! زه درنه چا وړی یم، زه خو ستا یم، ګوره دا څو شپې دي، زما غږ خو هره ورځ اورې، نو بیا ولې دومره خپه یې؟ ګوره بیا هم درته وایم په ځان دې پام کوه، زه پوهېږم ته ناروغه کېږې، زه سبا بېرته درځم.

خو ننداري ژر په ژړغوني غږ وویل:

ـ نه نه! داسې نه ده، زما ژړا دا مانا نه ورکوي، چې ته دې خپله دنده پرېږدې او راشې، يوازې مې دومره ووېل، چې ډېره خپه شوې يم او بس نور څه نه دي.

ارمان ورته بيا د خپلې مينې وعدې ورکړې، له څو ښکلو خبرو او اترو څخه وروسته يې د يو بل سره خداى پاماني وکړه، ننداري موبايل ته کتل، هغه چې د کړکۍ خواته غلې ولاړه وه او کړکۍ يې پرانيستې وه، له بهر نه تازه هوا کوټې ته رادننه کېده، نن او اوس هغې ته خپلې ژړا نور هم خوند ورکړى و، رالګېدلې هوا ورته ارمان راوړى و.

ګلبرګ، پېښور صدر
دسمبر ۱۸ ۲۰۰۳

شتمني

شپه ښه پخه شوې وه او رنا ته اوس هم خوب نه ورته، هغې د کوټې چت ته کتل او څلورو دېوالونو ته، چې څرنګه څلورو دېوالونو يو تر بله لاسونه ورکړي او چت يې پاس په خپلو متو نيولی دی. د هغې په زړه کې به بيا داسې راوګرځېدل، چې دې څلورو دېوالونو به په يوه ورځ يو تر بله سره لوړه کړې وي او چت سره به يې وعده کړې وي، چې د ژوند تر پايه به يې همداسې په خپلو متو کې ټينګ او اوچت ساتي او په خپله ژبه باندې به ولاړ وي.

هو! رنا همدا سوچونه کول، خو په دې کې به يوه وېره ورته پيدا شوه او ټکان به يې وخوړ. نه! که په دې دېوالو

کې کوم یو یې له خپلې ژبې واوري، نو بیا؟ په دې وخت کې ورته ښکاره شو او دا تصویر یې په ذهن کې راغی، چې دا یو دېوال سترې ښکاري او متې یې نورې ستومانه دي او د چت د نیولو توان ورسره نه دی پاتې او له خپله هوډه پښېمانه دی، خپل لاسونه یې لرې کړي او د ګوتو تګارې راباسي، چې دمه شي، خو دا درې نور بیا زیار وباسي، چې چت هماغسې پاس وساتي، د چت یوه خوا لاندې ځمکې خواته ښکته کېږي.

په دې وخت کې رڼا خپلې سترګې وموښلې او په خپل ځای کې نېغه کېناسته، یو سوړ اسوېلی یې له خولې څخه راووت. بیا یې څلورو دېوالونو ته او بره چت ته یې وکتل، چت هماغسې په ځای ولاړ و او دېوالونه هم په خپل هوډ او ژبه ټینګ... شکر یې له ځان سره وویست. اوس نو زړه یې لږ څه له خپګان نه سپک ښکارېده. سلیم ته یې وکتل، بیا یې د هغه په لیدو بېرته هغه پخوانی حالت ونیوه. د هغه د ماښام خبرې یوه یوه ورپه زړه شوه او هره خبره یې ډېره ترخه ورته تمامېده. رڼا ژوند ته تل د خپل د زړه په سترګو کتل، هغه څه چې به یې په زړه کې و، هغه به یې په خوله وو، هغې له درواغو نه ډېر بد وړل او خپله یې هم نه غوښتل له چا سره درواغ وکړي او دا یې هم نه خوښېده، چې څوك ورته درواغ ووایي.

دا څه موده کېده چې د سلیم په خبرو او په کړو وړو کې ډېر بدلون راغلی و، په وړو وړو خبرو به یې رڼا

ځورولـه. د سلیم پـه سترګو کـې یـوه ستره پښېمـاني ښکاریـده، هغـه پښېمـاني او سـتوماني، چـې د مخـامخ دېوال پـه متهو کـې څـو شـېبې وړانـدې ښکاریـده. رڼا د ژونـد ډېرې نـاخوالې تېـرې کـړې وې، ډېـره لـه درواغـو سـره مخـامخ شـوې وه، خـو بیـا هـم هغـې خپـل استقامت کلـه هـم لـه لاسـه نـه و ورکـړی او نـه یـې دومـره پـه زړه لـوی اثـر پرېښـی و لکه د نن ماښام د سلیم د خبرو او درواغو اثر.

هغـه نـن ډېـره بـې بـاوره وه، هغـې اوس حتـا د ملایـانو خبـرې او آخـرت وعـدې هـم درواغ ګڼلـې او خپـل وجـود یـې هـم ورتـه درواغجـن او دوکـه بـاز ښکاریـده. پـه ځـان یـې هـم بـاور خـتم شـوی و، ولـې چـې سـلیم ورتـه تـر ځـان نـژدې و او ځـان تـر سـلیم نـه ورتـه پـه دویـم قـدم کـې ارزښـت درلـود. لـه سـترګو یـې اوښکـې راتـویې شـوې، بیـا یـې خپلـه یـوه اوښکـه راواخیسـته د ګـوتې پـه سر اوښکـه هـم پلنـه شـوه او پنـاه شـوه ورسره پاتې نشوه.

پـه دې وخـت کـې لـه خـوب ځایـه پاځېـده، غوښـتل یـې چـې یـوازې شـي، خـو سـلیم لاسـونه تـرې چـاپېر کـړل، ورتـه یـې وویل:

ــ چېرې ځې؟. څمله، ماته خوب راځي.

رڼا ترخـه موسـکا وکـړه، سـلیم ځـان تـه د معصـوم ماشـوم څېره اختیاره کړه او په نرمه ژبه یې وویل:

ــ زه یوازې وېرېږم؟

خو دسلیم په دې انداز باندې د رنها باك هم رانه غی، دلته و چې رنها یو سکون ترلاسه کړ، په دې سکون کې یوه لویه شتمني پرته وه، چې نور به د هغې زړه هېڅکله ناکراره نه وي او نوره به بې ځایه نه ځورېږي. هغې خپل زړه ځانته رانژدې کړ، نور یې هم رانژدې کړ او بیا یې له سترګو اوښکې راتوی شوې، په خپل زړه باندې یې زړه وسوځېده، چې هغه یې ولې دومره موده له ځانه لرې کړی و او سلیم یې ځانته نژدې کړی و.

رنها نوره د سلیم په دروا غو او دوکو نه غولېده، په هغه شپه چې سلیم د خدای په حضور کې هغه څه، چې هغې ته د زړه په بدل کې ورکړي و واو نن ماښام د هغه د ورکولو څخه منکر و، اوس رنها په دواړو لاسونو خپل لوی دولت ټینګ نیولی و، د ګوتو منځ کې به یې په خپل ژوبل او مړاوي زړه باندې د شفقت اوښکې تویې کړې او بیا به یې د اوښکو له هر څاڅکي سره یو سکون ترلاسه کړ.

د می د میاشت ۱۷ نېټه
ګلبرك، صدر

د مور شيدې

د ابۍ تږخاري يو ځل بيا د پلوشې کرار خوب ناکراره کړ او پلوشه بيا په ژړا پيل شوه. د پلوشې د ژړا په اوريدو سره غوږۍ، چې د نغري خواته ناسته وه او په نغري باندې يې د چايو چايجوش ايښى و له ځايه راولاړه شوه، په غوسه کوټې ته راننوته، بلا بلا ولې نه ويده کيږې؟ بيا يې پلوشه په زنګانه واچوله او په زنګولو يې پيل وکړ. زړه بړستن يې پرې راکش کړه، چې ويده شي.

پـه دې وخـت کـې د ماسـخوتن بانګونـه وشـول، ابـۍ بيـا خپـل سـر د بالښـت نـه لـږ څـه راوچـت کـړ او پـه لړزېدلي غـږ يې له غوټۍ نه وپوښتل:

ـ توراب نه دی راغلی؟

غوټۍ د ابـۍ پـوښتنې تـه ځـواب ورنـه کـړ، د ابـۍ زړه بيـا ناکرارۀ شو او بيا يې په لړزېدلي غږ وپوښتل:

ـ توراب خان نه دی راغلی؟

اوس نو غوټۍ په غوسې کې ځواب ورکړ:

ـ نـه چېرتـه راغلـی، خـدای پوهېـږي پـه څـه پسـې ورک دی.

د تـوراب نـن دريمـه ورځ وه، چـې د کبـاړ بنينونـه يـې نـه و خـرڅ شـوي او يـوه روپـۍ يـې هـم نـه وه ګټلـې. نـن هغـه قسـم کـړی و، چـې تـر هغـو بـه کورتـه نـه ځـي، ترڅـو د ابـۍ د دوا خوړلـو لپـاره يـې د شـيدو پيسـې نـه وي ګټلـي. پـه دې ورځـو کـې د تـوراب بخـت لکـه چـې اوښتـی وي، بنينونـو يـې هېـڅ خـرڅلاو نـه درلـود. د کيمـپ د دوکانـدارانو د قـرض د ډاره څخـه د سـهار د بـانګ پـه وخـت بـه لـه کـوره وت او د ماسوختن د بانګونو پس به په کور راننوت.

ابـۍ د غوټـۍ پـه داسـې ځـواب ورکولـو بانـدې پـوه شـوه، زړه يـې لـږ څـه خپـه شـو، بيـا يـې زړه برسـتن پـه مـخ راښکلـه او خپـل مـخ يـې پـټ کـړ. دا څـو ورځـې کېـدلې چـې يخنـۍ وهلـې وه او تبـه يـې سـخت خوړېـده. د ګلاجـان مـور ورتـه د سينه بغـل دارو راوړي وو، خـو لـه بـده مرغـه هغـه لـه شيدو

سره خوړل کېدل او دا څلورمه ورځ وه، چې د ابۍ د دوا لپاره شیدې هم نه پیدا کېدې.

توراب د غلو په شان پټ کور ته راغی او نن لږ څه وینه یې په رنګ کې ښکارېده. یوه وړه د پلاستیك کڅوړه یې په لاس کې نیولې وه، کوټې ته راننوت. غوټۍ د هغه په لیدو سره پلوشه یې ورو په ځمکه څملوله او برستن یې پرې کش کړه او له ځایه پاڅېده.

توراب له غوټۍ نه وپوښتل:

ـ واړه خوبولي دي، ابۍ څنګه ده؟

ـ ښه ده ایله اوس لږ څه په کراره شوه، له ماښامه یې تراوسه په ټوخاري پیل کړی و، له ډېره ټوخېدو نور پکې زور نه و پاتې، سینه یې غلبېل غلبېل شوه، غږ پرې ونه کړې اوس یې سترګې سره ورغلې دي.

بیا د غوټۍ کڅوړې ته پام شو، ویې پوښتل:

ـ داڅه دي؟

توراب وویل:

ـ څه نه دي د ابۍ لپاره مې شیدې راوړي، څه دارو وخوري.

غوټۍ کڅوړه ورڅخه واخیسته او په تاخچه کې یې دلاټین ترڅنګ کېښوده، لاړه د نغري له پاسه چایجوش یې نور جوش شوی و، چای یې پخې کړې او راغله. د توراب مخې ته یې دسترخوان وغوړاوه، چای یې راواخیستې او په خوړولو یې پیل وکړ.

نن ماښام توراب ته چایو خوند نه ورکاوه، نیمه پیاله چای یې لا نه وې څکلې، چې له ځایه پاڅېده او د ابۍ سرته ورغی، خپل سر یې ورټیټ کړ او غوږ یې ورته ونیوه، د هغې د سینې غرهاری یې تر غوږو شو، سوړ اسوېلی یې وویست، سر یې وښوراوه او بېرته په خپل ځای کېناست. له ځان سره وبنګېده، غوټۍ چې ورته پام شو، ورڅخه یې وپوښتل:

ـ څه دي ولې؟

ـ هیڅ په غریبۍ دې لعنت شي ټوله ورځ مې همداسې تېره کړه، ماښام تېر و، چې یو سړی له مانه هم پمن راغی، بنینونه یې لاندې باندې کړل او په تاوان سره مې یو بنین وربانډې خرڅ کړ، ترڅو ابۍ ته شیدې راوړم. اوس خو دوکانداران قرض هم نه راکوي.

د توراب زړه ناکراره و، بیا یې غوټۍ ته وویل:

ـ ابۍ به راویښه کړو ترڅو له شېدو سره دارو وخوري، ګوندې څه شپه پرې په کراره تېره شي.

غوټۍ ورسره ونه منله، ویې ویل:

ـ مه یې کوه، څه شېدې خو نه خرابېږي پرېږده سبا به یې وخوري، اوس غلې پرته ده، څه یې کوې.

لاټین په تپارې پیل وکړ، وروستۍ سلګۍ یې وهلې، توراب غوټۍ ته وکتل، غوټۍ یې په کتو پوه شوه وې ویل:

ـ نور تیل نشته، چې لاټین ته یې واچومه. ځه هسې هم وېده کېږو، نور مجلس به په تیاره کې وکړو.

لاټین خپله وروستۍ شغله هم د توراب په سوي رنګ وغوړوله، کوټه توره تیاره شوه.

توراب ځان بسترې ته برابر کړ او په سوچونو کې لاړ. ابۍ کراره پرته وه او خرهاری یې د توراب تر غوږو تیرېده. نن د توراب زړه هسې ناکراره و، چې سبا ته به له چانه پیسې واخلي او نور نو نه کېږي. ابۍ به ضرور ډاکټر ته وړي که نه نو له یوې خوا د مور مرګ تریخ دی او له بلې خوا د هغې ګور او کفن هم ډېرې پیسې غواړي.

بیا له څه سوچونو وروسته یې ځان سره ویل: ځه غوټۍ به پخلا کړمه چې د خپل واده غوږ والۍ راته راکړي، هغه به خرڅې کړم، څه به د دوا پیسې شي او څه به دوکاندارانو ته ورکړم. په دې خواږه سوچ باندې یې زړه خوشاله شو، د سکون احساس یې وکړ او سترګې یې سره ورغلې.

سهار د غوټۍ په شور او غږ له خوبه راپاڅېده، چې په بادام او زرو جانې ښې سترګې راوپستلې وې او ښېراوې یې کولې، خدای مو ځوانیمرګان کړه، په خوارۍ یې راوړې وې. اوس به دا بدمرغه دارو په څه خوري؟ الله مو ورك کړه، هغې په زوړ کې د کوټې غولی پاکاوه. توراب چې له بالښته سر رااوچت کړ، ګوري چې د شېدو کڅوړه د غولي په مخ پرته ده. له ډېرې غوسې نه راپاڅېده، یوه

کلکه ځپېړه یې بادام او بله یې زرو ته ورکړه. هغو هم په ژړا پیل وکړ. دې وخت کې یې ابۍ ته پام شو، د هغې سرته ورغی ترڅو حال یې وپوښتي. غږ یې پرې وکړ:

ـ ابۍ څنګه یې؟

بیا یې وپوښتل، خو ابۍ ځواب ورنه کړ، وارخطا غوندې زر یې بړستن له مخې لرې کړه، پام یې شو چې د ابۍ خوله او سترګې نور له حرکته پاتې دي.

تصویرونه

نن د لیك پاکټ بل پوست وړونکي راوړی و. د پوسټ وړونکي بدلېدل یوه لویه پېښه ځانګې ته وربرېښنده او څو واري یې د اسد له مور څخه وپوښتل:

ـ ابۍ ولې هغه بابا لیك رانه وړ؟

په داسې حال کې چې د ابۍ سترګې له اوښکو راډکې شوې وې، په خپه انداز سره یې وویل:

ـ هیڅ لورکۍ ما هم له دې ځوان پوست وړونکي څخه د بابا پوښتنه وکړه، ځواب یې راکړ دا څلور ورځې کېږي، چې په حق رسېدلی، الله دې وبښي.

د یو سوړ اسوېلي په وېستو ابۍ بالښت ته ډډه ووهله، زیاته یې کړه:

ـ دا د ټولو لار ده، پرون هغه لاړ سبا به موږ ځو.

ځانګه ددې خبرې په اورېدو ډېره خپه شوه، راغله د ابۍ ترخوا کېناسته، دومره خپه شوه، چې سمې اوښکې يې تويې شوې، زوړ بابا په ځانګې او ابۍ ډېر ګران وو، تل به يې د اسد ليکونه د دوی کور ته رارسول او ځانګې ته به يې ډاډګېرنه ورکوله، چې يوه ورځ به دا د بېلتون لړۍ وشلېږي او دا اوږد مزی به لنډ شي او دا به اسد ته ورشي. دا د ځانګې شپږم کال و، چې د اسد په نامه راواده شوې وه، يوازې يې د هغه تصويرونه ليدلي وو او بس.

هغه د بېکارۍ او په وطن کې د جګړو له امله مجبور شوی و، چې د نورو هېوادوالو په شان يو لرې ملك ته په پټه ولاړ شي، خو د اسد له بدقسمتۍ څخه د هغه لپاره تراوسه ګرين کارټ نه و ترلاسه شوی او نه يې شو کولای چې بېرته راشي او يا ځانګه وروغواړي. په نن او سبا کې دا دومره کلونه تېر شوي وو او عمر همداسې په تېرېدو و.

ځانګې خپلې اوښکې پاکې کړې، په اوږده سوچ کې لاړه، د زوړ پوست راوړونکي مړګ ورته بل شان ښکاره شو، ډېر تاثير يې پرې وکړ، ور په ياد شو کله چې يې اسد ته په نامه کړې وه، ملګرو به يې په ټولګي کې ورته ويل:

ـ اوس درسره خبرې هم نه کېږي، کال ته به په امريکا کې يې، ګوره چې موږ درنه هېرې نشو، يو نيم ليك او تليفون راکوه.

د امریکې د تللو هیله نوره ورځ په ورځ د څانګې له زړه وتلې خبره شوې وه، تر دوه کالو پورې به اسد په اونۍ کې یو ځل له څانګې سره په تلیفون خبرې کولې، بیا وروسته خبره میاشت ته ورسېده او دا دی اوس دا لړۍ لیکونو ته رسېدلې وه او د تلیفون خبره بې کال ته پاتې شوې وه.

ابې یو ځل بیا د لیک پاکټ په سترګو وموښه، ښکل یې کړ او څانګې ته یې وویل:

_ مه ژاړه لورکۍ! بابا ښه سړی و، خدای دې وبښي، څومره ښې ډاډګېرنې به یې موږ ته راکولې، اسد دې خدای ژوندی لري دا لیک راته ولوله، چې اسد څه پکې لیکلي.

لیک لږ څه درونډ غوندې ښکارېده، څانګه خوشاله شوه، چې د اسد تصویرونه به پکې وي، پاکټ یې پرانیست د لیک سره سم د څانګې سوچ رښتیا شو، د اسد څو ښکلي تصویرونه وو. څانګې تصویرونه راواخیستل بیا یې یو یو تصویر له لاسه په ځمکه ولوېده، ساه یې شاته لاړه او هکه پکه پاتې شوه.

ابې تصویرونه اوچت کړل هغه هم ښه ورته ځیره شوه، اسد له یوې طلایي ویښته لرونکې سرې او سپینې ښکلې ښاپیرۍ سره خوا په خوا چې یو د دریو کالو ماشوم هم په یو تصویر کې د اسد په غېږ کې ښکارېده ایستلي وو.

ځانګه پوه نشوه زر يې ليك راواخيست او ورو يې د ليك هره كرښه تر نظر تېره كړه.

اسد د دعا او سلامونو نه وروسته له ځانګې نه ډېره ښښنه غوښتې وه او خپل مجبوريت يې ښكاره كړى و. د ځانګې لپاره چې دا شپږ كاله دده په نامه دده د پلار كره ناسته وه او دى مجبور شوې و د يو ځل راتګ لپاره دا واده وكړي، ترخو وكولاى شي كله كله د ځانګې لپاره هېواد ته راشي او دا زېرى يې وركړى و، چې په راتلونكي مياشت كې به د خپلې مېرمنې او زوى سره راشي، خو ځانګه به ځان نه ښيي، چې د اسد مېرمن ده، كه نه نو بيا به يې امريكايي مېرمن خپه شي او دا كار به يې له لاسه وځي بيا به يې د بېرته تګ لپاره چانس له لاسه لاړ شي.

برګ کمیس

بختوګۍ ورې ورې سلګۍ وهلې، زامنې خوارکۍ یې ترڅنګ ډډه وهلې وه او د هغې په سور رنګو وېښتانو کې یې ورو ورو ګوتې وهلې. بیا به یې د خپل پلو په پېڅکه د بختوګۍ له سترګو اوښکې پاکې کړې او نوره به یې هم ځان ته ورنژدې کړه، په خوږه او وره ژبه باندې به یې هغې ته وویل:

ـ بختو! زما ګرانې! سرې! پستې ګوره ته مه ژاړه سبا ته به له خېره سره هغه ښکلی او نوی کمیس نه دی؟؟ هغه به دروا‌غوندمه، بیا به دې په رنجو سترګې درته تورې کړمه. هو رښتیا! مخ او لاسونه به دې په مشکي صابون پرېمینځم، چې د عطرو خوشبویي درنه لاړه شي.

ته به د زلمي اکا دوی کره، بدو اکا کره به لاړه شې، هغوی به درته اختری درکړي. ته اوس غلې شه، ګوره زه اوس درته د "غلو د پاچا" نکل پیل کوم.

بختوګۍ له اوښکو ډکې سترګې خپلې مور ته وروا ړولې او په وره ژبه یې له زانې څخه د نکریزو غوښتنه کوله، ترڅو لاسونه او پښې ورته نکریزې کړي، خو زانې به په یوه پلمه او بله پلمه ورته وویل:

ـ دوکان بند و، سبا ته نکریزې راوړو او ستا دواړه لاسونه به درسره کړم.

بختوګۍ ته تېر مازیګری ور په زړه شو، چې په کوڅه کې د کیمپ له نورو ماشومانو سره په لوبو بوخته وه، د شمسو اکا لور ورېمې ورته ویلي وو:

ـ ماته مې دادا نن دومره ښکلي بوټونه راوړي دي او مور داسې ښایسته کمیس هم ګنډلی سبا ته یې اغوندمه.

نارنجه ورنژدې شوه او ورېمې ته یې ورغبرګه کړه:

ـ لالا مې پرون مور ته د "لیلا" نکریزې راوړل، څه د تا له کمیس نه زما کمیس ډېر ښایسته دی، زه مې مورکۍ ته وایم، چې زما په لاسونو کې د نکریزو ګلان واچوي.

د نجونو خوږ مجلس ته بختوګۍ غوږ نیولی و، هرې یوې ملګرې یې د خپلو جامو او هغه شیانو چې یې د اختر لپاره اخیستي وو، په هغه یې سره خبرې کولې، خو بختوګۍ غلې وه، هغې سره کوم نوی شی او یا نوې خبره نه وه.

فاطمې په دې وخت کې بختوګۍ ته وویل:

ـ بختو! تا نوی کمپس کړی؟؟؟

بختو غلې وه، د هو یا نه ځواب ورسره نه و، بیا نارنجه د دوی په خبرو کې ورګډه شوه او وې ویل:

ـ بختوکۍ خو پلار نه لري، دا خو هماغه یو برګ کمیس لري، چې په هر اختر کې یې اغوندي.

ټولو ماشومانو د نارنجې په دې خبره وخندل، خو بختوکۍ ته خندا نه ورتله، نور دې مجلس او لوبو خوند نه ورکاوه. د کور په لوري یې منډه کړه، خپلې کلا ته لاړه، مور ته ورغله او بیا یې د هغې په غاړه کې دواړه لاسونه ورامېل کړل او ورته وې ویل:

ـ ماته د "لیلا" نکریزې واخله، زر کوه نارنجه او فاطمې دوی بېګاه لاسونه سره کوي، مورې هم ورسره وعده وکړه، چې اخیستي یې دي، بېګاه ته به یې لاسونه ورته سره کوي، خو اوس یې مور ورته په دې خبره کې پاتې راغلې وه، هغې د دوکان د بندېدو پلمه کوله. زانې د بختوکۍ د ژړا د کرارېدو لپاره د "غلو د پاچا" نکل راواخیست او په خوږه او پسته ژبه یې بختوکۍ ته نکل کاوه. د بختوکۍ سترګې ورو ورو پرې درنې شوې او ویده شوه.

سهار په دې خوشالۍ چې هغه نوی کمیس چې مور ورته په غوټه کې تړلی او ورته ساتلی یې دی راوابه یې خلې او په مشکي صابون به یې لاسونه، مخ او پښې

پرېمنځي بيا به يې سترګې ورته په رنجو توري کړي. له خوب ځايه پاڅېده.

د مور خواته ورغله، زانه پوه شوه د حمام له تاخچې نه يې مشکي صابون راواخيست او د بختوکۍ لاسونه، مخ او پښې ورته پاك پرېول، ويښتان يې ورته ږمنځ کړل، سترګې يې هم ورته په رنجو توري کړې. نن ورځ خوشاله ښکارېده، د لمر پلوشې خوندورې وې، ځمکه او آسمان بختوکۍ ته خوشاله خوشاله تر سترګو کېدل.

زانې غوټه له صندوق نه راواخيسته او د بختوکۍ د برګ کميس په لټه کې شوه، کميس چې يې له غوټې راوويست او د کوټې په غولي يې آوار کړ، نو هکه پکه پاتې شوه، له سترګو يې بې اختياره اوښکې راتويې شوې، بختوکۍ د مور په اوښکو توېدلو پوهه نشوه، زانې خپلې کم بختې ورځې ته ژړل، خو بختو نه پوهېده چې ولې؟؟ هغه نه پوهېده چې کميس يې ټول "پويا" وهلی او سوري سوري يې کړی دی. کله چې بختوکۍ پوه شوه، نو د کميس په هر سوري کې به يې ګوته وردننه کړه او "پويا" ته به يې ښېرې کولې، خو ښېرې لا تېرې نه وې، چې بختوکۍ له نارنجې، فاطمې او وږمې سره يوځاى په اينځلو جامو کې د "زلمي اکا" کره د اختر د مبارکۍ لپاره روانه وه.

د پیغمبر لمسیان

د ژمي شپې او ورځې وې، هوا ډېره سړه وه، خلکو باندې دا ژمی دومره په سختۍ تېرېده، چې څه به درته ووایم. د کابل ښار په دې څو کلونو کې د کورنۍ جګړې له امله ډېر ژوبل او تاواني شوی و او د ښار اوسېدونکیو خپل ژوند په کړاو سره تېراوه. هر څه بدل شوي وو، د ارزانۍ ځای قیمتۍاو ګرانۍ نیولی و، د سلامتۍ ځای ناروغۍ، د ودانۍ ځای ورانیو. هرڅه د جګړې له لاسه ګډوډ وو. د ښار اوسېدونکیو سره یوازې ځینو بهرنیو خیریو موسسو به کله ناکله مرسته کوله. ددې موسسو په

خوا کې یوه پیاوړي خیریه موسسه چې وه هغه د WFP موسسه وه. دې موسسې د کابل ښار په بېوزلو خلکو باندې د پخې ډوډۍ کارتونه ویشلي وو او هرې کورنۍ ته به یې د ورځې یو ځل څلور ډوډۍ د کارت له مخې ورکولې، نو نیکمرغه هغه کورنۍ وه، چې دا ډول کارت یې درلود.

زموږ په کوڅه کې له موږ سره څو نورو کورونو هم دا کارت درلود، پاتې څو نورو کورونو ته کارت نه و رسېدلی، چې ددې کورونو په ډله کې یو هم د ابۍ کور و.

که د خدای له حق نه تېر نشو، نو د ابۍ خوارکۍ حق و چې دا ډول کارت یې ورکړی وای. ولې چې هغه خوارکۍ کونډه وه، واړه واړه ماشومان یې ور په غاړه وو، مشر زوی یې سربلند د څوارلسو کالو و. سربلند به هره ورځ له سهاره تر ماښامه په ښار کې پنډونه چلول او ماښام به ستړی ستومانه له یوې مړۍ ډوډۍ سره خپلو دریو خویندو او دوه وروڼو ته راروان و. پلار خوارکی یې تېر کال د طیارې تر بم لاندې مړ شو.

د کابل په ښار کې د ورځ په تېرېدو سره ګراني ډېرېده او د هرڅه بیه به لوړېده. خلک خواران له ستونزو سره لاس او ګرېوان وو، د ښار اوسېدونکي اوس دومره بې وسه شوي وو، چې بډای او غریب پکې نه و معلوم.

ابۍ به هره ورځ ماسپښین قضا له خپله کوره وتله او خپله وړه لور تورکۍ به يې له لاسه نیولې چېرته به تله. دا نه معلومېده، چې چېرته ځي، خو کله کله به چې په کوڅه کې موږ سره مخامخ شوه، نو چې پوښتنه به مو ورڅخه وکړه، يوه پلمه به يې وکړه، چې دلته نژدې مې د چا کره کار دی.

په هغه ورځ هوا ډېره سړه وه، واوره ورېده، نژدې غرمه وه، چې ابۍ يوازې په اوریا کې روانه وه. د کوڅې په سر کې ورسره مخامخ شوم، تر روغبړ وروسته مې وپوښتله، چې ابۍ چېرې ځې؟ دا اوریا ته ګوره او ستا تګ خیرت خو به وي؟

سترګې يې له اوښکو راډکې شوې ويې ويل:

ـ دا څو ورځې کېږي چې تورکۍ ناروغه ده، تبې يې کولې څه ګولۍ مې ورکړې، خو له بېګاه راهیسې له خوړو څخه هم لوېدلې ده، تکه ژېړه اوښتې ده، سهار مې شفاخانې ته بوتله، ډاکټر راته دا نسخه راکړه، په کور کې پیسې نه وې، د سربلند خوارکي دا ډېرې شپې وشوې، چې هیڅ مزدوري نه کېږي، په ښار کې کارونه لږ شوي اوس دلته لنډه مې د خورزې کور دی، هغه ته ورځم که د دوا پیسې راته په پور راکړي.

ماته ډېر ارمان راغی، چې کاشکې له ما سره دا پیسې وای او ابۍ خوارکۍ ته به مې ورکړې وای، چې په دې سپین سر او په دې اوریا کې روانه ده. ابۍ ته مې وويل:

- خیر دی ابۍ خپه کېږه مه خدای مهربانه ذات دی، په خدای قسم دی چې ما سره هم پیسې نشته، همدا اوس له ښاره راغلمه او لږ څه سودا مې کور ته واخیسته، که نه نو تر تا به مې جارې کړې وای. چېرې مې په دې اوریا کې پرېښولې، چې د خورزې کره تللې وای.

ابۍ لاړه له ما سره زموږ ترڅنګ د ګاونډي لور ګلالۍ هم ښار ته تللې وه. ګلالۍ مخ راواړوه ویې ویل، چې ابۍ خوارکۍ هره ورځ له تورکۍ سره لرې لرې ځایو ته د خیر ټولو ولپاره ځي، څو ورځې مخکې زما کشر ورور لیدلې وه، دلته شرمېږي او موږ ته پلمې کوي. ما ګلالۍ ته وویل:

- نن خو خوارکۍ پلمه ونه کړه، د تورکۍ د دوا نسخه ورسره وه. ګلالۍ هم ارمان وکړ، هغې وویل:

- نن سبا کابل کې د ټولو همدا حال دی، که دا د ډوډۍ کارتونه، نه وای ما او تا به هم په خیر پسې وتلي وو.

سبا ته د جمعې ورځ وه، بیا نژدې غرمه وه، چې په کوڅه کې شور ماشور جوړ و. د کلا له دروازې نه مې کوڅې ته سر وربهر کړ، په کوڅه کې ډېر سړي راټول شوي وو، نو له حیا نه بېرته راستنه شوم. یوه ګړۍ وروسته چې کشرۍ زوی مې له کوڅې راغی، سملاسي یې راته وویل:

- موږ سربلند نن طالبانو په وهلو وهلو بوته، ابۍ داسې ژړل خوېندو یې هم ژړل. بیا د طالبانو پښو ته

ولویده هغوی سربلند خوشې نه کړ، خلك وايي د سرك د غاړې هغه درملتون، چې شنې شیشې لري، هغه ته ماسخوتن سربلند ورغلی درملتون والاچې د تورکۍ دوا ورته رااخیستې په پاکټ کې اچولې، نو سربلند هغه دوايي راتښتولي او پیسې یې نه دي ورکړي. نن سهار هغه سړي د سربلند دوی کور پیدا کړی او طالبان یې پرې راوستل.

د ابۍ پرونۍ د اوښکو نه ډکې سترګې راپه زړه شوې، خدای شته چې زړه مې ډېر خپه شو، مازیګری و په کوڅه کې سړي نه وو، د ابۍ کره ورغلمه. ابۍ خواره په کوټه کې د تورکۍ سر ته ناسته او د کوڅې ښځې شاوخوا ته ورسره نږدې ناستې وې. د سربلند ابېت یې کاوه. څرنګه چې زه کوټې ته ورننوتم، ما پسې شاته د جمعه خان انا راننوته او په ابۍ یې غږ وکړ:

ـ زویه دا ولې؟ بیا څه ټکه دربانديې راپرېوته؟

ابۍ په ژړا شوه او له ځایه جګه شوه، د جمعه خان د انا لاسونه یې ښکل کړل. بیا یې کیسه داسې پیل کړه: تورکۍ خو تاسې ښه په سترګو وینئ، چې په ځان کې یې نور څه نه دي پاتې، پرون په هغه اوریا کې خورزې کره لاړو. د تورکۍ نسخه راسره وه چې پیسې راته په پور راکړي. دوا ورته واخلمه. هغې په خپله پیسې نه درلودې، د هغې حال مې چې ولیده، واړه واړه زامن یې ژړېدل، سپینې وریجې یې په اوبو کې ورته خوټولې وې او

هلکانو هغه وریجې نه خوړلې. له موره یې ډوډۍ غوښتله او له دې حیرانی سره د ډوډۍ پیسې نه وې. بیا مې خوله ورته جوړه نشوه، چې ورته ووایم، همداسې راغلمه. کور ته چې راورسېدم، نو تورکۍ په کانګو پیل وکړ. رنګ یې لکه د مړي غوندې شو، ماښام چې مور خوړلی سربلند له ښاره راغی، نو ډېر خپه و، هېڅ یې له ځان سره نه و راوړي. د تورکۍ سرته کېناسته، پوښتنه یې وکړه، ما ټوله کیسه ورته وکړه، مخ یې راواړوه ویې ویل، چې ابۍ نن مې لږ څه مزدوري وکړه، پیسې مې په جېب کې کړې او د خوراك څه مې نه اخیستل، ما ویل چې نن به ضرور تورکۍ ته دوا واخلم، نو کله چې موټر ته ورپورته شوم، نه پوهېږم موټر د خلکو څخه ډك و، کلینر چې کرایه رانه وغوښته، ما چې جېب ته لاس کړ، جېب مې چا پرې کړی و، نو طبیعت مې ګډوډ شو.

ده لاخبره نه وه خلاصه کړې، چې تورکۍ بیا کانګې وکړې، له کانګو سره یې د وینو غوټې وې، د سترګو تور یې لاړل، نجلۍ بېسده په ځای پرېوته، په دې کې سربلند وارخطا شو، نسخه یې واخیسته او له کوره ووت.

د ماسخوتن بانګونه کېدل، چې ستړی ستومانه خولې پرې ماتې وې راغی او دوا یې له ځان سره راوړه. نجلۍ ته یې دوا ورکړه، بیا یې راته وویل، چې ابۍ نن خو رانه ډېر خراب کار وشو، خیر خدای مهربانه دی، چې پیسې

پیدا کړمه دا یې پر ما باندې قرض، بیا یې یو په دوه ورکومه. ژر مې ورځخه پوښتنه وکړه:

ـ ولې زویه ولې؟؟

ـ هیڅ ابۍ په ډېرو شناختیو درملتونو وګرځېدمه دا دوا ډېره ګرانه وه، چا په پور نه راکوله، هر یوه ته مې زارۍ وکړې، خو سوال مې چا ونه مانه، بیا نو مجبوره شوم، ځان سره مې سوچ وکړ، ومې ویل، چې دا خو ښه کار نه دی د نسخې پیسې یو لك افغانۍ کېږي او که خدای مه کړه نجلۍ مړه شي، بیا نو د کفن پیسې پوره کوه، د مرګ ژوبلې تاوان! نو په همدې کې یو بل درملتون ته ورپورته شوم، دوا چې یې راته راکښته کړه او په کڅوړه کې یې واچوله، ما هم سملاسي دوایي راواخیسته او راوتښتېدم.

ټوله شپه سربلند خوب ونه کړ، په خپل ځای به خوارکی لټ په لټ کېده، ابۍ ژړل د کلي کوځې ښځو هم چې هره یوه یې له ابۍ نه کمه نه وه، له ابۍ سره هرې یوې خپل ډك زړه تشاوه.

پخوا به ابۍ هر مازیګر له کوره وتله، اوس نو ابۍ له سهاره چې له کوره وتلې وه، تر ماښامه پورې ماموریت په ماموریت به د طالبانو پوستو ته تلله او په زاریو سر وه، چې ګوندې سربلند راخلاص کړي.

د جمعې ورځ وه، خلکو د جمعې د ورځې لمونځ خلاص کړی و، دا ورځ له سهاره همداسې درنده تېرېده،

ما د ماسپښین لمونځ وکړ، په جای نماز باندې ناسته وم، ناڅاپه سربلند راپه زړه شو، نو د خدای پاك دربار ته مې لاسونه په دعا پورته کړل، چې خدای پاك دې د سربلند په حال ورحمېږي او خدای پاك دې له بند څخه راخلاص کړي.

دعا مې لا خلاصه کړې نه وه، چې بیا د هماغې پخوانۍ ورځې په شان په کوڅه کې غالمغال شو، خلك ډېر راټول و، دروازې ته ورتېره شوم، د کوڅې خلکو ټولو ژړل، ګلالۍ هم د کلا دروازې ته راوتلې وه، له هغې نه مې پوښتنه وکړه، ځواب یې راکړ نه پوهېږم چې څه خبره ده، کېدای شي سربلند مړ وي. ژر مې وویل خدای دې نه کړي، تنکۍ ځوان دی. په دې کې مې د کلا دروازه پورې کړه، ګلالۍ ته مې وویل:

ـ خورې زما کور ته پام کوه، یوار به د ابۍ کره ورشم، چې څه چل دی.

کله چې د ابۍ کره ورننوتم، ګورم چې ابۍ د کلا په منځ کې ناسته او نورې سپین سرې ښځې هم ورسره ناستې ژاړي، ابۍ د ځمکې خاورې پورته کوي او په خپل سر باندې یې بادوي، ټولو راغونډو شویو ښځو هم ژړل.

د بلې ګاونډۍ څخه مې وپوښتل:

ـ څه چل دی؟

د هغې سترګې چې له ژړا ډکې وې، راته یې وویل:

ـ دې ظالمو طالبانو نن په غازي اسټېډيوم کې د سربلند لاس پرې کړی. ابۍ ناري سورې وهلې او په ژړا ژړا يې دا ويلې، چې سربلند خو به په دې لاسونو باندې پنډې په شا کولې او مور ته به يې يوه مړۍ حلاله د غريبۍ ډوډۍ راوړه، اوس به څه کوي، خدای مو پاچاهي چپه که، خدای مو زامن مړه که، زما له زړه نه خبر شئ.

ابۍ په نارو سورو کې وه، په دې کې يو وړوکی ماشوم، چې له لاس نه يې سرې وينې څڅېدلې راغی، په خپله وړه ژبه يې ابۍ ته وويل:

ـ ابۍ مه ژاړه! دا دی د سربلند لاس مې درته راوړی، هغه ببرته پرې سرېش کړه.

زبیدا

د یو غرغ په اوریدو سره ملالۍ سخت ټکان وخوړ او د سوچونو تال یې سره وشلیده. په دې وخت کې د درخو ابۍ غږ له بلې کوټې نه راپورته شو، ملالۍ وه ملالۍ چېرې ورکه یې، راځه دلته څه خدای مه کړه اوس به...

ملالۍ له ځایه وارخطا پاڅېده او غوړیدلی دسترخوان، چې په کاسو کې ډوډۍ وره کوله، ترڅو نوروز اکا د ماسپښین له لمانځه راشي او بیا به د غرمې ډوډۍ سره وخوري. همداسې دسترخوان او کاسه یې په ځای پرېښودل، هغې کوټې ته لاړه، چې هلته درخو ابۍ ناسته وه، اوږدې تسبې یې په ګوتو اړولې رااړولې او سترګې یې له اوښکو ډکې ښکارېدې، ژر ژر یې آیتونه تېرول او په یوه ساه یې همدا ویل:

ـ خدای دې خیر کړي! الله دې رحم وکړي، اکا دې خدای په خیر راولي، ما ورته وویل. چې سړیه! په کور کې لمونځ کوه، دا ورځ د جومات ده، چې ته جمعې ته ورځې او بیا یې ملالۍ ته کتل، چې لکه پاڼه رپېدله.

درخو ابۍ ځان ډاډه ښکاره کړ، که څه هم تر ملالۍ دا ډېره یرېدلې وه، ددې لپاره چې ملالۍ باندې څه ونشي او همدا یې شپې او ورځې وې او درخو ابۍ د نوي لمسي راتلو ته سترګې په لاره وه. ملالۍ بیا په سوچ کې لاړه، د ماښام خبرې یې یوه یوه په ذهن کې راتلې، چې څرنګه سلیم سره ناسته وه او د نوي ماشوم لپاره یې نومونه خوښول، که هلک شو "مېړنی" به نوم پرې کېږدو او که نجلۍ وه، نو "رڼا" به...

سلیم د ښار په یوه روغتون کې معاون ډاکټر و، د مور او پلار نازولی او یوازینی زوی و. د نوروز اکا دوه زامن په جهاد کې د روسانو سره په جګړه کې شهیدان شوي وو او یوه لور یې وه، چې په کلي کې د اکا د زوی سره واده شوې وه.

ملالۍ ته د سلیم یوه یوه خبره بیا په ذهن کې او په سترګو کې راګرځېده، په دې وخت کې د کلا دروازه خلاصه شوه، نوروز اکا کلا ته راننوت. د نوروز اکا په راننوتو سره درخو ابۍ ژر ژر شکرونه وویستل، په لوړ اواز یې وویل:

ـ څه شکر دی ملالۍ! اکا خو دې په خير راغی، سليم دې الله وساتي د الله مال دې له الله نه مې سلامت غوښتی.

د راکټونو آوازونه اورېدل کېدل، چې شېبه په شېبه ډېرېدل.

نوروز اکا کوټې ته راننوت او په لوړ آواز سره يې وويل:

ـ خدای دې خير کړي، څو واره مې ورته وويل چې هلکه! پرېږده دا روغتون او کابل خو... نه پوهېږم، چې څه غواړي؟

په دې کې درخو ابۍ غږ اوچت کړ:

ـ د سليم پلاره غږ خو ډېر نژدې و، د چا په کور ولګېده؟ ورکه وه يې موږ په لمانځه وو، چې جومات ټول وښورېده، د جمعه خان په کور کې لګېدلی، جومات وال جمعې نه وروسته ورغلل او خپله جمعه اکا هم په جومات کې و، د هغه دوه وړې جينکۍ د احمد لوڼې درته ښايمه ژوندۍ پاتې دي، نور ټول کور يې وران شو. په دې وخت کې ابۍ ناري کړې "وی" او مخ ته يې څپېړې ورکړې.

ملالۍ د بت په شان نيغه ناسته وه او په رنګ کې يې يوه زره شان وينه نه وه. ذهن ته يې دا راتلل، چې څه وخت به توغندی راځي او د دوی په کور به لګېږي او دا به څه وخت له ابۍ او اکا سره مړه کېږي؟.

د ملالۍ په ملا کې نرۍ نرۍ درد پیل شو، له ځایه پاڅېدل او بیا په کاسو کې اشکنه اچول او ډوډۍ کوټې ته راوړل ورته ډېر ګران کار ښکاره شو. ابۍ ته یې مخ وروااړاوه، ورته یې وویل:

ـ ابۍ اکا خو راغی ډوډۍ راوړم؟

د ابۍ له خولې سوړ اسوېلی راووت، هغې وویل:

ـ زویه! ډوډۍ د چا زړه ته کېږي؟ ته به هم وږې یې او اکا به دې هم وږی وي، څه را یې وړه.

ملالۍ پاڅېده او لاړه.

نن ورځ په ملالۍ باندې ډېره سخته تمامه شوه، د غرمې له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته ابۍ او اکا دواړه د جمعه خان کره لاړل، مازیګر و چې ابۍ راغله، توغندي لرې لرې لګېدل، په هر کور کې به دوه او درې کسه شهیدان شول او هره ورځ به له هر کوره خامخا یوه او یا دوه جنازې وتې او هدیرې به په خپلې پراخې سینې کې په ډېر ورین تندي باندې جنازې منلې.

ابۍ چې کله د جمعه خان اکا له کوره راغله، نو سمدلاسه یې دسلیم پوښتنه وکړه، چې راغلی نه دی؟. سلیم نه و راغلی او بیا ابۍ د جمعه خان په کور باندې د توغندي د لګېدلو، د جمعه خان د ښځې، انګور، لورانو او لمسیانو د شهادت کیسې راواخیستې. ملالۍ ته یې مخ وروااړاوه او په عذر سره یې ورته وویل:

- ملالۍ لوري سليم خو نه زما خبره مني او نه دې د اکا ته خو ورته ډېره ګرانه يې ته ورته ووايه، چې دا نوکري دې ورکه شي پرېږده سبا به لکه د جمعه اکا د کور په شان به زموږ په کور هم بلا راپرېوتې وي، لاړ به شو پېښور ته خير هلته به مزدوري کوي اکا به دې هم ورسره شي څه وچه او لمده خو... خدای مهربانه پاچا دی، په دې وخت کې د ملالۍ له خولې يو سوړ اوسيلی راووت، ابۍ ته يې وويل: مورې زه خو هره شپه ورته وايمه په ژبه مې نور ويښته راشنه شو، هغه راته وايي چې کله خدای له دې رنځ نه خلاصه کړې بيا به څه فيصله وشي. د ملالۍ شپې ورځې وې او نن خو وربانديې د قيامت په شان تېره شوه. له شرم نه يې ابۍ ته هم حال نه شو ويلی. په ملا بانديې يې دردونه شيبه په شيبه ډېرېدل. د ملالۍ رنګ شيبه په شيبه بدلېده. ددې حالت ته د ابۍ پام شو، د ماښام د بانګو نه وروسته سليم راغی، د سليم په راتګ سره ملالۍ خوشاله شوه او زړه يې ټول شو. سليم د جمعه خان اکا د کور په مصيبت بانديې چې ابۍ ورته مخامخ ناسته وه کيسه وکړه او خبر شو، خدای شاهد دی چې ډېر خپه شو.

له دمې جوړولو څخه وروسته ملالۍ څنګ ته ورغله او پوښتنه يې ورڅخه وکړه ملالۍ! رنګ دې ښه نه ښکاري، مريضه خو به نه يې. ملالۍ سړې سړې سترګې ورواړولې او ورته وويل: الله که سليمه! نه پوهېږم له

غـرمي نـه راپـه دېـخـوا پـه مـلا او نـس مـې درد ځـي راځـي، شـرم نـه ابـۍ تـه هـم څـه ويلـی نشـم. سـليم د ملالـۍ پـه دې خبرو چرتـي غونـدې شو. پـه سوچ کې لاړ، بيا يې ځان سره وويـل: نـن خو جگـړه هـم ډېـره تـوده ده، توغنـدي ډېـر لگېـدلي نـن يـې شـفاخانې تـه دومـره زخميـان راوړل، چـې لـه انـدازې نـه وتلـي وو. همـدې لپـاره ناوختـه راغلـم. خـداى دې خيـر کـړي نـن شـپه دې خـداى تېـره کـړي، سبا تـه بيـا آسـانه ده. سـليم لا لـه ځانـه سره بنگېـده، چـې ملالـۍ وارخطـا کـوټې تـه ننوتـه او د کـوټې پـه غـولي اوږده وغزېـده. ابـۍ چـې پـه مصلـه بانـدې ناسـته وه او نـوى يـې د ماښـام لمـونځ خـلاص کـړى و، ژر پـه ملالـۍ پسـې کـوټې تـه وردننـه شـوه. پـه ملالـۍ يـې غـږ وکـړ، ولـې لورکـۍ مريضـه خـو بـه نـه يـې؟ ملالـۍ د درد لـه لاسـه خبرې نشـواى جوړولي او ابـۍ تـه يې د خبرې ځـواب نشـو ورکـولاى. پـه زگـيـروي يـې پيـل وکـړ. ابـۍ نـه لاره ورکـه شـوه، لاس او پښـې يـې رپېـده، وارخطـا لـه کـوټې نـه راووتـه. سـليم چـې د چـوترې پـه زې ناسـت و او پـه چـورتونـو کـې ډوب د ملالـۍ فکـر اخيسـتى و، چـې ملالـۍ بـه څرنگـه ماشـوم زېږوي. پـه کـور کـې ورتـه سـخته وه او دا يـې لومـړى ماشـوم و. د ملالـۍ د ژونـد خبـره وه، هغـه خـو يـو معـاون ډاکتـر و او د هـر څـه او هـرې پېښـې ورتـه پتـه وه، پـه دې وخـت کـې ابـۍ پـرې غـږ وکـړ: سـليمه زويـه سـليمه! سـليم د ابـۍ پـه آواز سره وارخطـا لـه ځايـه پاڅېـده، وې ويـل: ولـې مـورې څـه دي؟ ابـۍ پـه ژړغـوني غـږ وويـل: الله دې رحـم وکـړي، څـه بـه کـوو،

ملالۍ ناروغه ده. زه هم په څه نه پوهېږمه زویه! څه به کوو. سلیم له ابۍ سره وارخطا کوټې ته راننوت، د ملالې سرته کښېناست، په ملالۍ یې غږ وکړ: ملالۍ، ولې ډېره ناروغه یې ملالۍ د دردونو له لاسه تاوېده راتاوېده، د خبرو جوړول او ځواب ورکول ورته ډېر ګران کار ښکارېده. له سترګو یې اوښکې راروانې وې او ستونی یې ډك ډك کېده. په ډېرې سختۍ سره یې سلیم ته ځواب ورکړ: سلیمه نه پوهېږمه مړه کېږمه، په خدای چې مړه شوم او اوښکې یې په مخ راروانې وې. د سلیم رنګ سپین اوښتی و، دا تور ماښام او دا توده جګړه چې کوڅه په کوڅه روانه وه، نه د موټر درك و او نه د ډاکټر. حېران حېران یې ابۍ ته کتل. بیا یې مخ مور ته واړاوه، موري اوس به څه کوو، شفاخانه خو هم لرې ده، په دې لارې کې په هر قدم کې یو توغندی لګېږي. نه موټرې شته نه ډاکټر. بیا یې خپله د ډاکټرۍ بسته راواخیسته او د فشار د کتلو آله یې راوویستله. د ملالۍ فشار یې وکوت د هغې فشار شېبه په شېبه لوړېده. دا سلیم لپاره ډېره د تشویش وړ وه. ابۍ لکه پانه رپېدله او ځان سره یې دعاګانې کولې، چې الله دې ورحمېږي. له ځایه راپاڅېده او د رپیك له سره یې د قران شریف له منځه هغه ګنډل شوی تعویض راواخیست، چې څو ورځې مخکې د جومات ملا نوروز اکا ته لیکلی و، چې کله ملالۍ په

اولاد ناروغه شي دا تعویض به یې په ښه وروتړي او الله به یې په آسانۍ سره اولاد پیدا کړي.

سلیم کله مور ته کتل او کله به ملالۍ ته. ابۍ تعویض د ملالۍ په ښه وتاړه او بیا یې په دوعاګانو باندې پیل وکړ. د ملالۍ وضع شیبه په شیبه خرابېده، په دې کې و، چې نوروز اکا د ماښام د لمانځه نه راستون شو، ابۍ د کوټې نه وارخطا منډه کړه او نوروز اکا ته یې چې نوی کلا ته راننوتی و، ځان ورساوه او په ساه نیولي غږ یې ورته وویل: سړیه! ننګور ناروغه ده، ډېره سخته ده اوس به څه کوو. نوروز اکا ددې خبرې په اورېدو ډېر وارخطا شو، په ځای ودرېده. بیا یې سلیم ته غږ کړ سلیمه راووځه دلته راشه. سلیم د پلار د غږ په اورېدو له کوټې نه ووت، نوروز اکا ورته وویل: دا د کور کار نه دی د ژوند او مرګ خبره ده. مور دې زړه ښځه ده او بله دا چې بلا وهلې په هېڅ هم نه پوهېږي. په هر ډول چې کېږي، ښځه دې شفاخانې ته ورسوه. سلیم نه لاره ورکه وه، پلار ته یې مخ ورواړاوه: پلاره نه موټر شته او نه کوم بل څه په څه یې ورسوم؟ نوروز اکا د زوی په اوره لاس کېښود، مه وارخطا کېږه، زه اوس بېرته راځم. نوروز اکا له کوره ووت. سلیم او ابۍ په ځای سره وچ ولاړ ول او یو بل ته یې کتل. لنډه شیبه لا نه وه تېره چې سلیم اکا کلا ته راننوت او سلیم ته یې وویل: د مامور له زویه مې سایکل

راواخېست ژر کوه په سایکل یې وُرسوه. د نوروز اکا په دې خبره د سلیم په پښو کې دمه پیدا شوه.

ملالۍ چې د دردونو له لاسه قدمونه نشو اوچتولی، په ډېرې سختۍ سره د سایکل شا ته ځان په سلیم پسې ټینګ کړ. د ابۍ د لاس ګنډه شوې غوټه وه، چې سلیم ته یې په لاس ورکړه او وویل: زویه دا به واخلې د ماشوم کالي او ورنې دي. سلیم په بایسکل پښه واړوله او د یو سترګې رپ سره له کوڅې نه پناه شو. په لارو کوڅو کې د ماښام تیاره لګېدلې وه او سړکونو واټونو په غاړو کې نه د موټر اثر و او نه د بنیادم. په ځینو ځلورو لارو کې د تنظیمونو پوستې ښکارېدې. د توغندیو وحشتناکه آوازونه اورېدل کېدل. دا چې چېرته لګېدل ددې پته نه وه. سلیم به چې کله د هرې پوستې له مخې تېرېده، ټوپک والاو به پرې غږ وکړ، چېرې ځې سلیم به سایکل ودراوه او ورته به یې وویل: ناروغ راسره دی، روغتون ته ځم. بیا به یې سلیم او ملالۍ ښه له نظره تېر کړل. ورته به یې وویل ځه. په نیمه لاره کې رسېدلی و، چې د سړك په منځ کې مورچل جوړ شوی و. دلته نو جګړه سخته توده روانه وه، مرمۍ یوه یوه د سلیم او ملالۍ له سره تېرېدې او توغندي نږدې لګېدل. سلیم سایکل ودراوه، وارخطا په دې یو ټوپك والا ورته رانږدې شو ځوانه چېرې روان یې؟ هغه وویل: روغتون ته ځم. د ملالۍ د ملا درد نور نه و او له ډاره رېږدله، هرڅه ورځخه هېر وو. ټوپك

والا ورتـه اشـاره وکـړه، څـه پـه دې لاره دې ځـان وباسـه سـلیم دسـاېکل مـخ راواړاوه او پـه بـل سـړک روان شـو. نیمـايي لارې تـه راورسـېده، دلتـه کـراره کـراري غونـدې وه. د ډزو آوازونـه دومـره نـژدې نـه و. نـابېره وېـره یـې پـه زړه وړپېـدا شـوه، پـه دې لاره بانـدې د وحـدت پوسـتې وې چـې پـوټکی پـه سـر وباسـي. پـه همـدې وېـره کـې و، چـې د سـړک پـه سـر سـړي ورتـه ودرېـدل او هـوايي ډزې يـې وکـړې. د درېـدو اخطـار يـې وکـړ..تپـه تيـاره وه، سليم سـړی نـه ليـده، ښـه ورتـه رانـږدې شـو. پـه وحشـتناکه اواز يـې وويـل: کجـا ميـري کجـا وطـن دار. ددې غـږ پـه اورېـدو د سـليم لـه پښـو نـوره دمـه لاړه، د ملالـۍ پـه شـان يـې خبـرې جـوړول هېـر شـول. همـدومره يې وويـل: وحـدت وحـدت ليوانـو تـه ښکـار پـه لاس ورغلـی و. د ملالـۍ پـه ملا کـې بيـا درد پيـل شـو. سليم سـړو تـه ډېـر عـذر او زارۍ وکـړې، لـه سترګو يې اوښکـې راغلـې، چـې بې ګنـاه يـو، تـور سـرې راسـره ده، شـفاخانې تـه يـې رسوم. پـه دې کـې هغـه بـل يـې د ماشـينګن پـه کنـداغ د سـليم پـه اوږه ګـوزار وکـړ او د پوسـتې پـه لـوري يـې سـره روان کـړ. بيـا هغـه ملګري يې خپـل قومانـدان تـه چـې پـه چوکـۍ ناسـت و، پـه غـوږ کـې څـه وويـل. قومانـدان لـه ځايـه راپاڅېده او پـه لـوړ آواز يـې وخنـدل، څـومره ښـه شـفخانې تـه حاجـت نشـته، مـوږ ښـه ډاکټـران يـو، د مـريض ښـه عـلاج کـوو. د سـترګو پـه رپ سـره د سـليم لاس او پښـې د يـو پسـه پـه شـان چـې حلالېـدو تـه تيـار وي وتـړل شـوې او پـه ځمکـه پـروت و. پـه

PROPERTY OF ACKU 12135

لـوړ آواز يـې وژړل، ملالـۍ نـوره پـه ځـان خبـره نـه وه، پـه چوکـۍ ناسـته يـوه ښځـه يـې پـه يـوه چوکـۍ او بلـه يـې پـه بلـې چوکـۍ تـړل شـوي وو. د قومانـدان غـږ لـه خنـدا سـره يوځـای د سـليم پـه غـوږ کـې تاوېـده راتاوېـده، د هرڅـه تماشـه مـو کـړې وه، پـه دنيـا کـې مـو هرڅـه ليـدلي و، خـو نـن راځـئ چـې دا تماشـه هـم وکـړو. نـور د سـليم لـه خـولې څخـه غـږ نـه پورتـه کېـده، سـترګې يـې پټـې پټـې کېـدې، چـې دواړه ماشـوم اواز يـې تـر غـوږ شـو، ټـول بـدن يـې ورپېـده، سـترګې يـې لـوڅې کـړې، بيـا د ماشـينګن پـه يـوه غـږ سـره د ماشـوم آواز غلـی شو.

ابـۍ او نـوروز اکـا سـليم او ملالـۍ تـه سـترګې پـه لار وو. ابـۍ تـوده شـېره د ملالـۍ لپـاره پخـه کـړې وه او پـه کوټـه کـې يـې دوه توشـکې سـر پـه سـر اچـولې وې. د نـوي ماشـوم لپـاره يـې هـم ځـای غـوره کـړی و. ابـۍ بـه کلـه غوړيـدلې ځـای تـه کتـل او بيـا بـه د کـلا دروازې تـه شـوه، د توغنـديو آوازونـه نور غلي وو، ښار کې کراره کراري وه.

د جومـات مخـې تـه راغونـډ شـوي خلـك چـې د هـر يـوه تـن پـه رنـګ کـې د ويـنې اثـر نـه ښکارېـده، ټـول پـه خپـل منځـو کـې پـه څـه لګيـا ول. د هـر چـا پـه لاس کـې يـو شـين کـارت او سـپينه پاڼـه وه، د نـوم پـه اخيسـتلو بـه هـر سـړي ځـان سـره لـږ څـه غـوړي بـوره او نـور څـه شـيان وړل. ابـۍ څـه نـه ليـدل، نـوروز اکـا يـې څنـګ تـه د منتظرينـو پـه کتـار کـې ولاړ و. پـه سوچ کـې تللـی و، خـدای خبـر چـې پـه څـه يـې سـوچ کـاوه، چـې

له مخې نه يې يو لېونی ځوان هلك تېرېده او ځان سره يې دا ويل: وحدت تماشه وحدت تماشه. نوروز اکا لېوني هلك ته وکتل او سترګې يې له اوښکو راډکې شوې، رنګ يې د سليم په شان و او خپل ورك سليم او ورکه ملاله ور په زړه شوه.

۱۳۷۶/کابل ـ مکروریان

PROPERTY OF ARIC

وړمه سبـــا عامر چې کورنی نوم یې "ننداره" دی د نن نه پینځویشت کاله پخوا د اولسوال خیال محمد احـمدزي کره زیږېدلې ده. اصلي ټاټوبی یې د لوګر ولایت د میروال سیمه ده. په ختہ اله دین خېله کوچۍ ده. د لېسـې تر کچې یې زده کړې د کابـــــل په ښار کې کړې دي او هم دا اوس په پېښور کې د ژورنالېزم په څانګه کې په لوړو زده کړو بـوخته ده. د ښوونځي له وخته یې د ادب د دنیا سـره مینه وه او دغه مینه ورسـره تر ننه مله ده. شـعرونه او لنډې کیسـې یې وخت په وخت د کابـل او پېښور په مجلو او ورځپاڼو کې چاپ شــوي او نوم یې اولس ته آشـــنا دی. په دې وروســتیو کې یې د هېواد د ځوان شـــاعر، لیکوال او خبریال نجیب عامر سره ژوند شریک کړ.

د وړمه سبا نور آثار:

1_ د پلوشو اتڼ	د شعرونو لومړۍ ټولګه	چاپ
2_ د واورې لمن	د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه	چاپ
3_سوالګره	د ښځو په اړه څېړنیزې مقالې	ناچاپ
4_ باغ ارم	د هنري نثرونو ټولګه	ناچاپ
5_بازار	ناول	ناچاپ

Designed by: Shafaq

چاپ چارې: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه
Tel/Fax:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com